ADB

# د هېواد د مشارکت ستراتيژۍ

د ۲۰۱۷ کال د اکتوبر مياشت

# افغانستان په ۲۰۱۷-۲۰۲۱ کلونو کې
# په نازک او له تاوتريخوالي ډک اغېزمن وضعيت کې هر اړخيزې ودې ته لاسرسی

دغه سند د آسيا پرمختيايي بانک د ۲۰۱۱ کال د عامه اړيکو له پاليسۍ سره سم، مخکې له دې چې د دغه بانک د رئيسه پلاوي لهخوا وکتل شي، د عامو خلکو د لاسرسي لهپاره وړاندې شو.

د آسيا پرمختيايي بانک

د اسعارو بیه
(۱۹سپتمبر، ۲۰۱۷)

| | | |
|---|---|---|
| د پیسو واحد | – | افغاني (AF) |
| ۱ افغانی | = | ۰.۰۱۴۶ آمریکایي ډالر |
| ۱ آمریکایي ډالر | = | ۶۸.۶۶۷۱ افغاني |

لنډیزونه

| | | |
|---|---|---|
| د آسیا پرمختیایي بانک | – | ADB |
| د افغانستان د زیربناوو وجهي صندوق | – | AITF |
| د افغانستان د سولې او پراختیا ملي کاري چوکاټ | – | ANPDF |
| کرنیزې او طبیعي سرچینې | – | ANR |
| د افغانستان د بیارغاونې وجهي صندوق | – | ARTF |
| د مرکزي آسیا سیمه‌ییزه اقتصادي همکاري | – | CAREC |
| د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ | – | CPS |
| د افغانستان د برېښنا شرکت (د افغان برېښنا شرکت) | – | DABS |
| نازک او له تاوتریخوالي ځخه وضعیت | – | FCAS |
| ناخالص کورني تولیدات | – | GDP |
| کیلومتر | – | km |
| د پوهاوي پر بنسټ تولیدات او خدمتونه | – | KPSs |
| د اوبو او برېښنا وزارت | – | MEW |
| د تدارکاتو ملي اداره | – | NPA |
| د ملي لومړیتوب پروګرام | – | NPP |
| حفظ و مراقبت | – | O&M |
| عامه-خصوصي مشارکت | – | PPP |
| تخنیکي مرسته | – | TA |
| ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هندوستان (تاپي) | – | TAPI |
| د اوبو د کاروونکیو ټولنه | – | WUA |

**یادښت**

په دې ریپورټ کې د "$" نښه د امریکایي ډالر لپاره کارول شوې ده.

| | |
|---|---|
| **مرستیال رئیس** | وینکای ژانګ، عملیاتي مرستیال (۱) |
| **عمومي رئیس** | شان اوسولیوان، د مرکزي او لویدیزې آسیا د څانګې عمومي رئیس |
| **ساحوی رئیس** | سمویل تومیوا، په افغانستان کې د آسیا پرمختیایي بانک رئیس |
| | |
| **سرتیم** | دیوید اولدفیلد، ستر اقتصادپوه، د مرکزي او لویدیزې آسیا څانګه |
| **د تیم غړي** | اسد علیم، د انرژي د څانګې ستر متخصص، د مرکزي او لویدیزې آسیا څانګه<br>محمد ایوبی، د کرنې او طبیعي سرچینو د پروژو ستر مسؤل، په افغانستان کې د آسیا پرمختیایي بانک ساحوی دفتر، د مرکزي او لویدیزې آسیا څانګه<br>شنی کمپبیل، په افغانستان کې د آسیا پرمختیایي بانک د ساحوی دفتر مرستیاله، د مرکزي او لویدیزې آسیا څانګه<br>فاطمه کتاکوتان، د پروګرامونو مسؤل، د مرکزي او لویدیزې آسیا څانګه<br>میګن کاوناهان، د روغتیا د څانګې متخصص، د مرکزي او لویدیزې آسیا څانګه<br>مارکو داویلا، په افغانستان کې د آسیا پرمختیایي بانک د ساحوی دفتر متخصص، د مرکزي او لویدیزې آسیا څانګه<br>نورلان جنچورایف، د چاپیریال د څانګې ستر متخصص، د مرکزي او لویدیزې آسیا څانګه<br>متیو هوج، اقتصادپوه (عامه مالي)، د مرکزي او لویدیزې آسیا څانګه<br>مینیخ، د پانګې اچونې د څانګې ستر متخصص، د خصوصي سکتور عملیاتي څانګه<br>میونګ سوک وایتفیلد، د سیمه ییزو همکاریو ستر متخصص، د مرکزي او لویدیزې آسیا څانګه<br>ټام پنیلا، تخنیکي مشاور (اوبه)، پایښت لرونکي پراختیا او د اقلیم بدلون څانګه<br>نتان رایف، د اقلیم د بدلون متخصص، د مرکزي او لویدیزې آسیا څانګه<br>ویتون تاویسوک، د ترانسپورت د څانګې ستر متخصص، د مرکزي او لویدیزې آسیا څانګه<br>هنس ولدرنګ، د اوبو د سرچینو ستر متخصص، د مرکزي او لویدیزې آسیا څانګه<br>فرهاد زمری، د پروګرامونو مسؤل، په افغانستان کې د آسیا پرمختیایي بانک د ساحوی دفتر مرستیاله، د مرکزي او لویدیزې آسیا څانګه |
| **ملګري کتوونکي** | بلابهاسکارا بتولا، د پروژې د مدیریت ستر متخصص، د جنوبي اسیا څانګه<br>ستیفنسن، استازی، د شمالي امریکا د استازیو څانګه |

د آسیا پرمختیایي بانک د هېوادني مشارکت د هر ډول ستراتیژۍ د چمتو کولو، د هر ډول پروژو د تمویل، یا پدې سند کې د ځانګړې خاوره یا ځانګړي جغرافیایي ساحه په نښه کول په اړه هیڅ ډول داسې قضاوت نه کوي چې د ځمکنۍ بشپړتیا له قانوني یا بل ډول حالت سره تړاو ولري.

## لړليک

**مخ**


هېواد ته يوه لنډه کتنه

I. د هيواد د مشارکت ستراتيژۍ ته لنډه کتنه ۳

II. د هيواد پرمختيايي شرايط ۴

III. د هيواد د ستراتيژۍ کاري چوکاټ ۶

أ. له مخکينۍ ستراتيژۍ څخه اخيستل شوي درسونه ۶
ب. د پراختيا ملي ستراتيژۍ ۶
ت. د پرمختيايي همکارانو رول ۷
ث. د آسيا پرمختيايي بانک ستراتيژيکي او موضوعي موخي او د عامه او خصوصي سکټور عملياتي لومړيتوبونه ۷
ج. د پوهاوي ملاتړ لهپاره لومړيتوبونه ۱۳

IV. د ستراتيژۍ پلي کول ۱۴

أ. د سرچيني ښودونکي پارامترونه ۱۴
ب. د پلي کولو لومړيتوبونه ۱۴
ت. د پايلو څارنه ۱۵
ث. خطرونه ۱۵

ضمايم

1. د هېواد د مشارکت ستراتيژۍ د پايلو چوکاټ ۱۶
2. د هېواد د پوهاوي پلان ۱۹
3. د پيوند شوو سندونو ليست ۲۲

**هېواد ته یوه لنډه کتنه**

| **اقتصاد** | ۲۰۱۲ | ۲۰۱۳ | ۲۰۱۴ | ۲۰۱۵ | ۲۰۱۶ |
|---|---|---|---|---|---|
| ناخالص کورني تولیدات ( په ملیارډ ډالر، اوسني) | **20.3** | **20.2** | **20.4** | **19.7** | **18.9** |
| د شخص پر سر ناخالص کورني تولیدات (امریکایي ډالر، اوسني) [الف] | **681.0** | **660.0** | **651.0** | **615.0** | **565.0** |
| د ناخالصو کورنیو تولیداتو وده (٪، په ثابت نرخ) | **14.0** | **3.9** | **1.3** | **0.8** | **2.0** |
| کرنه | … | 0.1 | (0.1) | (5.0) | 2.0 |
| صنعت | … | 3.1 | 2.4 | 4.1 | 3.1 |
| خدمات | … | 5.3 | 2.2 | 1.6 | 1.4 |
| ناخالصه کورنۍ پانګونه (د ناخالصو کورنیو تولیداتو سلنه) | 25.3 | 23.1 | 17.6 | 18.6 | 18.7 |
| ناخالصه ملي سپما (د ناخالصو کورنیو تولیداتو سلنه) | 30.7 | 31.6 | 23.4 | 21.5 | 25.8 |
| د مصرفوونکو د بیو شاخص (کلنی ٪ بدلون) | 6.4 | 7.4 | 4.7 | (1.5) | 4.4 |
| نغدي پیسي (ام 2)، (کلنی ٪ بدلون، د مودې پای) | 8.7 | 9.9 | 8.6 | 3.2 | 9.6 |
| عمومي مالي زیاتوالی (کموالی) (د امتیازاتو په ګډون، د ناخالصو کورنیو تولیداتو سلنه) | 1.1 | (0.6) | (1.7) | (1.4) | 0.1 |
| د سوداګرۍ بیلانس (د ناخالصو کورنیو تولیداتو سلنه) | … | … | (28.8) | (32.8) | (29.3) |
| د حساب اوسنی بیلانس (د رسمي انتقالاتو په ګډون، د ناخالصو کورنیو تولیداتو سلنه) | 5.3 | 8.5 | 5.8 | 2.9 | 7.1 |
| د بهرني پور خدمتونه (د اجناسو او خدمتونو د صادارتو سلنه) | … | … | … | … | … |
| بهرني پور (د ناخالصو کورنیو تولیداتو سلنه) [ب] | 6.5 | 7.0 | 6.5 | 7.0 | 6.5 |

| **بیوزلي او ټولنیز** | **2001** | **تازه ترین** |
|---|---|---|
| نفوس (ملیون) | 20.5 | 32.5 [2015] |
| د نفوسو وده (کلنی ٪ بدلون) | 4.2 | 2.8 [2015] |
| د میندو د مړینې کچه (په ۱۰۰،۰۰۰ ژوندیو زیږیدنو کې) | 1,050.0 | 327.0 [2014] |
| د ماشومانو د مړینې کچه (اټکل، پر ۱۰۰۰ ژوندیو زیږیدنو) | 95.4 [2000] | 66.3 [2015] |
| د پیداینبت پر مهال د ژوند تمه (کلونه) | 55.5 | 60.7 [2015] |
| د لویانو سواد زده کړه (د عمر ٪ ۱۵ کلونه یا له هغه لوړ) | 31.7 | 34.3 [2014] |
| د لومړني ښوونځي ناخالصه نوملیکنه (٪) | 22.0 [2000] | 112.0 [2014] |
| د ماشومانو خوارځواکي (له پنځو کلونو کم عمره (٪) | … | 55.0 [2014] |
| د بیوزلۍ کرښي لاندي نفوس (٪) | … | 39.1 [2014] |
| د څښاک خوندي اوبو ته لاسرسی لروونکی نفوس (٪) | 32.0 | 65.0 [2014] |
| حفظ الصحي ته لاسرسی لروونکی نفوس (٪) | 24.0 | 39.0 [2014] |

| **چاپیریال** | **2000** | 2015 |
|---|---|---|
| د کاربن ډای اکسایډ انتشارات($ktCO_2$) | 7.773 | ]2014 [2.809,9 |
| د کاربن ډای اکسایډ انتشارات د تن پر سر (تن) | 0.0 | ]2013 [7.0 |
| ځنګلي سیمه (د ځمکي د ټولي ساحي سلنه) | 1.2 | 1.2 |
| ښاري نفوس (د ټول نفوس سلنه) | 3.21 | 7.26 |

| **د آسیا پرمختیایي بانک د کارۍ ساحه** (فعال پورونه او د ADF بلاعوضه مرستي) | **د 31 دسمبر ۲۰۱۶ په اساس** |
|---|---|
| د پورونو او د ADF د بلاعوضه مرستي شمیر | **25** |
| خپلواک | **25** |
| غیرخپلواک | **0** |
| د پورونو اوADF د بلاعوضه مرستي (میلیون ډالر) | **2,701.0** |
| خپلواک | **2,701.0** |
| غیرخپلواک | **0.0** |
| تادیات | |
| د تادیاتو مبلغ (میلیون ډالر، ۲۰۱۶) | **184.6** |
| د تادیاتو تناسب (سلنه) | **10.4** |

… = د لاسرسي وړ نه‌ده، () = منفي، [] = تېرکال چې په کې شمېرې د لاسرسي وړ وي (ADB) = د آسیا پراختیایي بانک، (ADF) = د آسیا پراختیایی صندوق، (GDP) = ناخالص کورني عواید، (IMF) = د پیسو نړیوال صندوق ، (ktCO2) = کیلو تن کاربن دای اکساید، (M2) = ډېرې پیسې، (UN) = د ملګرو ملتونو سازمان، (UNDP) = د ملګرو ملتونو سازمان پراختیایي پروګرام.

[الف] په ۲۰۱۲ کال کې د ملګرو ملتونو سازمان له نړیوال لیدلوري بیاکتل شوې نسخه تر پوښښ لاندې نیسي. په ۲۰۱۳ کال کې په اقتصادي او ټولنیزو چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان دفتر له‌خوا د نړۍ نفوسو کتنه: د ۲۰۱۳ کال نوې شوې نسخه، د نیویارک ښار.

[ب] یوازې د عامه سکتور له‌پاره. ژمنه شوې د پور مرستې رانغاړي. هغه مرستندویه پورونه چې د ژمنې پر مهال په بشپړ ډول ریکارډ شوي دي. سرچینې: د آسیا پرمختیایي لیدلوري ډیټابس، افغان دولت، د مرکزي احصائیې اداره. په افغانستان کې د خلکو د ژوند شرایطو سروې، ۲۰۱۳ ـ۲۰۱۴ کلونه: د خطرونو او زیانمنتیاوو ملي ارزونه. کابل (IMF) ۲۰۱۷ میلادي کال. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت: د کریډیټ آسانتیاوو د پرمختیا له‌پاره د تدابیرو په چوکاټ کې لومړنی کتنه او د اجراأتو معیارونو د بیاکتنې غوښتنه ـ مطبوعاتي اعلامیه او د کارکوونکیو ریپورټ. د هېواد په اړه د (IMF) ریپورټ، شمېره ( ۱۷/۱۴۴)، واشنګټن ډي سي، (IMF) د نړۍ د لیدلوري ډیټابیس، د ۲۰۱۷ کال د اپریل میاشت. په https://www.imf.org/external/pubs/ft/weo/2017/01/weodata/index.aspx ویب سایټ کې د لاسرسي وړ دی، (IMF) د سیمه‌ییز اقتصاد لیدلورى: د منځني ختیځ او مرکزي آسیا په اړه تازه معلومات، د ۲۰۱۷ کال د اپریل میاشت. په https://www.imf.org/en/ Publications/REO/MECA/Issues/2017/04/18/mreo0517) ویب سایټ کې لاسرسي وړ دی. نړیوال بانک، ۲۰۱۷ کال. د ۲۰۱۷ کال له‌پاره نړیوال پرمختیایي شاخصونه. واشنګټن ډي سي، د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره، ۲۰۱۶ کال. د ۲۰۱۶ کال له‌پاره د بشري پرمختیا ریپورټ: د هر کس له‌پاره بشري پرمختیا. نیویارک.

## I. د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ ته لنډه کتنه

1. **مهمې پرمختیایي ننګونې.** په افغانستان کې جنګ ـ جګړې په دوامداره توګه د هیواد د پراختیا مسیر ته بدلون ورکوي او په معکوس ډول په دغه هیواد کې د ژوند پر ټولو اړخونو منفي اغیز لري. اقتصادي وده له ۲۰۱۴ راهیسې د پام وړ سوکه شوې او دومره لوړه نه ده چې د هیواد له چټک زیاتیدونکي نفوس سره مقاومت وکړي، چې پایله یې د بیوزلۍ زیاتوالی دی. همدا ډول افغانستان د لوړ شمیر داخلي بېځایه شویو او ملیونونو کډوالو د راستنیدلو له ستونزې سره لاس او ګریوان دی چې له ګاونډیو هیوادونو څخه راستنیږي او بنسټیزو خدمتونو ته د لاسرسي پر وړاندې ستر خنډونه رامنځ ته کوي، په داسې حال کې چې دغه هیواد لا له مخکې محدود خدمتونه او وړتیاوې لري. ناکافي زیربناوې د خصوصي سکټور فعالیتونه محدودوي او بنسټیزو خدمتونو ته د غوره لاسرسي مخنیوی کوي. عادي او پرمختیایي بودجه تر ډېره د ډونرانو په مرسته چمتو کیږي ځکه چې د حکومت د عاید راټولولو وړتیا کمزورې ده. د روغتیا او زده کړې په ځینو اړخونو کې له ۲۰۰۲ کال راپدېخوا یو څه ښه‌والی راغلی، خو په افغانستان کې د جنیست نابرابري بیا هم په نړۍ کې تر ټولو لوړه ده. د حکومت وړتیا مخ په لوړېدو ده خو د پرمختیایي مرستو د لا اغېزناکتیا لەپاره نور ملاتړ ته اړتیا لري.

2. **د آسیا پرمختیایي بانک ستراتیژیکي موخې او لومړیتوبونه.** د دې او نورو پرمختیایي ننګونو پر وړاندې، د آسیا پرمختیایي بانک د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ موخه د یوې ښې ټولشموله او دوامدارې ودې لەپاره د یو پیاوړي بنسټ تأسیس او د بیوزلۍ د کچې د لاخرابوالي مخنیوی دی. د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ به له هغو پیاوړو مشارکتونو څخه ګټه واخلي چې د آسیا پرمختیایي بانک او افغانستان ترمنځ رامنځته شوي او د دغه بانک د عملیاتو شمولیت او اغېزناکتیا به لوړه کړي. د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ به د نازک او له تاوتریخوالي اغېزناک وضعیت (**FCAS**) لەپاره بېلابېلې تګلارې سره رایوځای کړي. دغه بنسټ به خپل فعالیتونه پر درېیو ستراتیژیکو بنسټونو متمرکزوي: (۱) اقتصادي فرصتونو، بازارونو او خدمتونو ته د ښځو او نارینه‌وو پراخ لاسرسی؛ (۲) پیاوړې اداري او بشري وړتیاوې؛ او (۳) د چاپیریال لوړ شوی پایښت، د اقلیم بدلون او د طبیعي پیښو پر وړاندې پیاوړتیا. د آسیا پرمختیایي بانک فعالیتونه به پر درېیو لومړیتوب لرونکیو فعالیتونو تمرکز ته دوام ورکوي چې له انرژي، ترانسپورت او کرنیزو او طبیعي سرچینو څخه عبارت دي. افغان دولت په کور دننه، پرتلەییزو ګټو ته په پام سره په دې برخه کې د همکارۍ غوښتنه کوي له تېرو فعالیتونو څخه زېږنده پانګې او سپارښتنې یې چې د ارزونې د خپلواک ډیپارټمنټ لەخوا د هېواد مشارکت ستراتیژۍ د اعتبار سنجونې او ارزونې په وروستي ریپورټ کې ترسره شوي، معکس کړې دي.[1]

3. **د حکومت له پرمختیایي پلانونو سره سمون.** د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ له نیږدې څخه د افغانستان د سولې او پراختیا ملی کاري چوکاټ (ANPDF)، د ځان-بسیاینې د درک اجنډاء، د ملي لومړیتوب پروګرامونو (NPPs)، او نورو سکټورونو له بېلابېلو ماسټر پلانونو سره سمون لري.[2] په همدې توګه ویلی شو چې دغه ستراتیژۍ د آسیا پراختیایي بانک د سوداګریز ګډون پر ستراتیژۍ ولاړه ده، څرنګه چې د ۲۰۲۰ کال په ستراتیژۍ او د دغې ستراتیژۍ په منځمهاله اروزنه کې یې هم انعکاس موندلی دی.[3] په افغانستان کې د آسیا پرمختیایي بانک ستراتیژیک لومړیتوبونه او سکټورونه د نورو پرمختیایي همکارانو کارونه بشپړوي، ځکه په دغه هېواد کې د پرمختیایي همکارانو دندې او د دوی لومړیتوب لرونکي سکټورونه او موضوعي ساحې ښې څرګندې دي.

4. **د آسیا پرمختیایي بانک د ارزښت زیاتوالی.** دغه بانک افغانستان ته د پام وړ ارزښت زیاتوالی راوړي، په زیربناوو او سیمه ییزه همکارۍ کې د افغانستان مخکښ همکار دی او د شخړو پر مهال او بیارغاونه کې د زیربنایي پروژو په وړاندې کولو کې پراخه تجربه لري. د هېواد د مشارکت په ستراتیژۍ کې د سکټورونو هر اړخیزه تګلاره به چې پانګونه، وړتیا لوړونه، عملیات، ساتنه او نورې ځانګړې برخې تر پوښښ لاندې نیسي- مرسته وکړي څو پایلې ډېرې د پایښت وړ شي. د آسیا پرمختیایي بانک لەخوا اداره کیدونکی د افغانستان د زیربناوو وجهي صندوق (AITF) به د نورو پرمختیایي همکارانو لەپاره د هغوی د لیوالتیا وړ پروژو ګډه تمویل پیاوړی کړي.

---

[1] د آسیا پرمختیایي بانک. د هېواد مشارکت ستراتیژۍ وروستۍ کتنه: افغانستان (له۲۰۰۹ کال څخه د ۲۰۱۵ کال تر نیمایي پورې). مانیلا: او د خپلواکي ارزونې څانګه، ۲۰۱۷ کال. د هېواد مشارکت ستراتیژۍ وروستۍ کتنې د اعتبار ریپورټ: افغانستان،د ۲۰۰۹ کال څخه د ۲۰۱۵ کال تر نیمایي پورې. مانیلا: د آسیا پراختیایی بانک.

[2] افغان دولت، ۲۰۱۶کال، د افغانستان د سولې او پراختیا ملي کاري چوکاټ، ۲۰۱۷ـ۲۰۲۱کلونه. کابل: او افغان دولت، ۲۰۱۴کال د ځان-بسیینې درک: د نوې مشارکت او اصلاحاتو ژمنتیا. هغه رساله چې د افغانستان په اړه د لندن کنفرانس کې وړاندې شوې ده. لندن. ۴ ډسمبر.

[3] د آسیا پرمختیایي بانک، ۲۰۰۸ کال. د۲۰۲۰ کال ستراتیژي، د آسیا پرمختیایي بانک اوږدمهاله ستراتیژیک کاري چوکاټ، ۲۰۲۰-۲۰۰۸کلونه، مانیلا: او د آسیا پرمختیایي بانک د ۲۰۱۴کال ستراتیژۍ،د ۲۰۲۰ کال ستراتیژۍ منځمهاله ارزونه: په آسیا او اوقیانوسیه کې د بدلون پر وړاندې شته ننګونو ته رسیدنه. مانیلا.

## II. د هېواد پرمختيايي شرايط

5. **تاوتريخوالی.** افغانستان له ۱۹۷۰ کلونو راهيسې شخړو ځپلی او د نړۍ له تر ټولو کمو پرمختللیو هېوادونو څخه دی. د آسيا پرمختيايي بانک کې، افغانستان د نازک او جګړه ځپلي هېواد په توګه ډلبندي شوی. که څه هم په ۲۰۰۵-۲۰۰۶ کلونو کې داسې برېښېده چې جګړه د ختميدو په حال کې ده، خو په ۲۰۰۹ کال کې يو ځل په تاوتريخوالي کې د پام وړ اندازه زياتوالی راغی او دغه لړۍ په ۲۰۱۵ کال کې لا تونده شوه چې د دې ښکارندويي کوي چې د کراري پر ځای به جګړه نوره شديده شي. له ۲۰۱۶ کال راهيسې، امنيتي وضعيت نور هم خراب شوی او د افغان امنيتي ځواکونو، طالبانو او داعش[4] ترمنځ سختې شخړې رامنځ ته شوې. په ۲۰۱۶ کال کې، د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې کچه اوج ته ورسيده او تر ۱۱۴۰۰ زياتو کسان مړه او ژوبل شول.

6. **پر نفوس اغېز.** په افغانستان کې شخړې د نفوس پر خوځښتونو منفي اغېز کړی. په ميليونونه کډوال په ګاونډيو هېوادونو کې اوسېږي، که څه هم ځيني په تدريج سره هېواد ته راستنيږي، چې لا له وخته ۱,۳ ميليونه داخلي بېځايه شوي وګړي لري. ډېری افغانان، په ځانګړې توګه ځوانان او هغوی چې زده کړې يې کړې، په پرمختللو هېوادونو کې د اقتصادي فرصتونو موندلو لپاره کډوال کېږي. په ۲۰۱۶ کال کې، له ۶۳۵۰۰۰ زيات وګړي نوي بېځايه شول. له ۲۰۰۲ کال راهيسې، له ۴،۸ ميليونه څخه زيات کډوال بېرته افغانستان ته راستانه شوي چې يوازې په ۲۰۱۶ کال کې، له پاکستان او ايران څخه له يو مليون زيات کډوال راستانه شول چې ډېری برخه يې په ګڼ ميشتو کمپونو او د ښاري سيمو کې په نورو غير رسمي استوګنځايونو کې ځای پر ځای شوي دي. له ۲،۳ ميليونه زيات افغان کډوال لاهم په ګاونډيو هېوادونو کې اوسېږي.

7. **اقتصادي ارزونه.** په افغانستان کې خدمتونه د ناخالصو کورنيو توليداتو له نيمايي څخه زياته برخه جوړوي، چې ۲۳ ٪ يې کرنه او ۲۱ ٪ يې صنعت دی. د کرنې پر هوا-تکيه فعاليتونه تر ډېره د هېواد د کلنۍ ودې نرخ يا کچه تر اغېز لاندې راولي، چې پايله يې د نوساناتو رامنځته کېدل دي. د افغانستان اقتصاد د صادراتو بنسټ ډېر محدود دی، چې تر ډېره پر غاليو، کرنيزو او حيواني توليداتو، بهرنيو مرستو (چې ډېر يې بهرني ځواکونه دي) او د داخلي توليداتو پر پلور تکيه دی. د دغه هېواد صادرات د وارداتو د ۱۰ ٪ معادل دي. همدا ډول افغانستان يو ستر غيررسمي اقتصاد لري، چې د مخدره موادو توليدات پهکې شامل دي. د دې تر څنګ، ياد هېواد تر ډېره د ډونرانو پر مرستو تکيه دی چې د طالبانو د رژيم پرځيدلو راهيسې د بيارغاونې او اقتصادي ودې پرمخ وړونکي دي. په ۲۰۱۶ کال کې، د ډونرانو امتيازاتو د دولت ۶۳ ٪ لګښتونه تمويلول. د دولت له نيمايي څخه زيات لګښت پر امنيت کېږي، چې د پراختيا لپاره يې مالي سرچينې ډېرې محدودې پاتې کېږي. په ۲۰۰۳-۲۰۱۳ کلونو کې د افغانستان د ناخالصو کورنيو توليداتو وده په منځنۍ کچه ۸،۷ ٪ وه. خو له ۲۰۱۴ کال راهيسې، په دغه وده کې ډېر کموالی راغلی دی، چې د ۲۰۱۴-۲۰۱۶ کلونو په موده کې دغه وده په منځنۍ کچه له ۱,۴ ٪ کمه وه. په ۲۰۱۴-۲۰۱۶ کلونو کې په دغه وده کې چټک کموالی تر ډېره د ۲۰۱۴ کال په پای کې له افغانستان څخه د بهرنيو ځواکونو د وتلو پر اغېز پورې تړاو لري او په هغې سياسي بې ثباتۍ پورې چې په ۲۰۱۴ کال کې له ولسمشريزو ټاکنو سره پيل شوه، د واک-شريکولو تر تنظيماتو لاندې يې دوام وموند چې دا يو څه د امنيت په خرابيدونکي وضعيت هم اړه لري.

8. **سياسي اقتصاد.** د افغانستان د سياسي اقتصاد يوه برخه له شخړې څخه اغيزمن شوی دی. له ۲۰۰۲ کال راهيسې د ډونرانو له خوا ميلياردونو مرستې دې وجوهاتو ته د لاسرسي د کنټرول خطر تر ډېره زيات کړی دی. په ملي کچه د وجوهاتو (فنډونو) د تخصيص او په سيمهييزه کچه د قراردادونو ترلاسه کولو سيالی د اداري فساد او په دولت کې د بې ثباتۍ لامل ګرځيدلی او په سيمهييزه کچه يې د قدرت غيررسمي مرکزونه (جنګسالاري) پياوړي کړي دي. د مخدره موادو توليد او صادرات هم د افغانستان په سياسي اقتصاد کې ستره ونډه لري، ځکه چې دغه هېواد د نړۍ ۹۰ ٪ مخدره مواد او هيرويين توليدوي چې د جنګياليو، جنايتکارو ډلو، سيمهييزو مليشو او د اداري فساد لپاره هم يوه ستره عايداتي سرچينه ده.

9. **بيوزلي.** له ۲۰۰۲ کال را پدېخوا اقتصادي ودې د بيوزلۍ کچه راکمه کړې نه ده. بيوزلی (چې د لګښت پر مټ اندازه کېږي) په حقيقت کې په ۲۰۰۷-۲۰۱۲ کلونو کې هيڅ بدلون نه دی راغلی، خو له هغه وخت راپدېخوا داسې اټکل کېږي چې په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کلونو کې له ۳۶،۵ ٪ څخه په ۲۰۱۳-۲۰۱۴ کلونو کې ۳۹،۱ ٪ ته لوړه شوې ده. سربېره پر دې، نابرابري نوره هم مخ په خرابېدو ده. په عمومي توګه د تن پر سر لګښتونه مخ پر کميدو دي، خو د خلکو تر ټولو بيوزلی قشر (لاندينی دوه برخې) په دوو پورتنيو برخو کې د بډايو کسانو په نسبت چټکه وده تجربه کوي. د بيوزلۍ او نابرابرۍ په نورو اړخونو کې د خوړو خونديتوب نشتوالی او بنسټيزو خدمتونو ته غير عادلانه لاسرسی شامل دی. د خلکو يو پر درې برخه د خوړو خونديتوب نهلري، په داسې حال کې چې نابرابري په ښاري-کليوالي سيمو او ولايتي نابرابرۍ د ښځينه صحي اوبو، غوره حفظ الصحي او د زده کړو لپاره نومثبتونه کې په څرګنده توګه ليدل کېږي.

10. **ټولنيز حالت.** د افغانستان د ټولنيزو اقتصادي شاخصونو ډېره برخه په آسيا کې تر ټولو په ټيټه کچه کې ده، خو له ۲۰۰۲ کال راهيسې په ځينو ساحو لکه د زده کړو او روغتيا په برخو کې ښه والی څرګندېږي. د ښوونځيو لپاره نومثبتونه کې د پام وړ زياتوالی راغلی. په ۲۰۰۱ کال کې، يوازې کابو يو ميليون زده کوونکي، چې ډېری يې هلکان ول، په ښوونځيو کې شامل ول. په ۲۰۱۳ کال

---

4 د داعش اصطلاح په افغانستان کې په سيمهييزه توګه د اسلامي دولت مليشو ته کارول کېږي او يو عربي لنډيز دی.

کې، په افغانستان کې نږدې ۸،۶ میلیونه زده‌کوونکیو په ښوونځیو کې زده کړه کوله، چې ۳۹٪ یې نجونې وې. خو بیا هم، د ښوونې او روزنې سیستم له یو لړ ستونزو سره لاس او ګریوان دي، لکه د جنسیت نابرابري، د تدریس کمزورۍ کیفیت، د ښځینه ښوونکیو نشتوالی او په ښوونه او روزنه کې د نجونو د ګډون پر وړاندې کلتوري او نور خنډونه. روغتیایي برخه ډېرې لاسته راوړنې لري، په ځانګړې توګه د میندو، د نویو زیږېدلو ماشومانو او تر پنځو کلونو کم عمره ماشومانو د مړینې د کچې په را ټیټولو کې چټک پرمختګ شوی دی. په عمومي توګه، د ژوند تمه په ۲۰۰۱ کال کې له ۴۳ کلونو څخه په ۲۰۱۵ کال کې ۶۰ کلونو ته لوړه شوې ده. په هر حال، افغانستان په نړۍ کې د ماشومانو د خوارځواکۍ تر ټولو لوړه کچه لري، چې له پنځو کلونو کم عمره ۵۵٪ ماشومان یې له شدیدې خوارځواکۍ څخه کړېږي.

11. **جنسیت (جنډر).** افغانستان د جنسیت له شدیدې نابرابرۍ سره لاس او ګریوان دی. په ۲۰۱۶ کال کې افغانستان د جنسیت نابرابرۍ شاخص له اړخه په ۱۵۹ هېوادونو کې ۱۵۴ ځای درلود.[5] په هر حال، د جنسیت برابري لوړېدل د هغو کلتوري او ټولنیزو محدودیتونو له امله چې پر ښځو وضع شوي، ډېر ستونزمن دی، لکه د نجونو لپاره د زده کړو په اړه د خلکو چلند، د ښځو محرومیت، او له کوره بهر د هغوی محدود خوځښتونه. په کاري ځواک کې د ښځو ۲۹٪ سلنه ګډون د کلتوري عواملو، امنیتي خطرونو، د دندو فرصتونو د نشتوالي، او له دې امله ټیټ دی چې دوی له کورنیو او کورونو څخه پالنه کوي. ښځې تر ډېره په غیر رسمي سکټور کې دنده ترسره کوي او د ګومارل شویو ښځو دوه پر درې برخه د کرنې په سکټور کې کار کوي. د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی عامه خبره ده. له وخت مخکې د نجونو ودول او د اجباري ودونو په ګډون، د جنیست نه وړتیا او د بیوزلۍ کړۍ په پیاوړې کولو کې مرسته کوي. په عملي ډګر کې ښځې او نجونې ډېر کم حقوقي خوندیتوب لري، سره له دې چې د دوی د حقونو د خوندیتوب لپاره قانون هم طرحه شوی دی. دولت هڅې کوي چې د ښځو د اقتصادي وړتیا لومړیتوب لروونکي ملي پروګرام پیلولو، په ډېرو دولتي ادارو کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالي له منځه وړلو واحدونو تأسیس، د ښځو او ماشومانو د ازارولو پر ضد د ۲۰۱۶ کال قانون او په ۳۴ ولایتونو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي له‌منځه وړلو اړوند د ځانګړیو عدلي تعقیبوونکو واحدونو تأسیس له لارې د ښځو او نجونو ژوند ښه کړي.[6]

12. **چاپیریال او د اقلیم بدلون.** افغانستان د چاپیریال تجزیې، اقلیم بدلون او د طبیعي خطرونو لرونکو پېښو پر وړاندې زیانمنونکی دی او د نفوسو د چټکې ودې، د طبیعي سرچینو د کمزوري مدیریت، د څارویو له ډېرو څرولو، او په ځنګلي سیمو کې د مداخلې له امله تر ستر فشار لاندې دی. د اوبو سرچینې هم د کمزوري مدیریت او د اوبو د کموالي له امله تر فشار لاندې دي، په ځانګړې توګه د خړوبیدونکیو فعالیتونو لپاره. افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د اقلیم بدلون د منفي اغېز پر وړاندې له خطر سره مخ، د تمې وړ اغېزو پر وړاندې زیانمنونکی او هوکړې وړتیا یې ډېره ټیټ ده. اټکل کېږي چې د اقلیم بدلون به د خلکو اقتصادي فعالیتونو او د ژوند کیفیت ته ستر خطرونه مواجه کړي، چې په احتمالي توګه به یې اغېز په غیرمتناسبه توګه په بیوزلو خلکو، ښځو او ګوښه شویو ډلو باندې وي. افغانستان لا له وړاندې د طبیعي خطرونو پر وړاندې نازک او زیانمنونکی دی او د اقلیم بدلون به دا وضعیت د اورښت کمیدلو او د ډېرو شدیدو بارانونو او لوړې تودوخې له لارې لا پسې خراب کړي. طبیعي خطرونه لکه زلزلې، سیلابونه، وچکالۍ، واورې ښوییدنې او ځمکې ښوییدنې هر کال په زرګونه افغانان زیانمنوي او پر بیوزلو خلکو غیر متناسبه اغېزه لري، چې ډېری وخت د طبیعي پېښو پر وړاندې زیانمنوونکیو سیمو کې اوسېږي.

13. **د دولت وړتیا او حکومتولي.** په دولتي وزارتونو او ادارو کې اداري وړتیاوې په تدریجي توګه د لوړېدو په حال کې دي. دولتي اداري تر ډېره د څارنې محدودې وړتیاوې، د مناسبو قوانینو او قواعدو د چمتو کولو لپاره محدود تخنیکي پوهاوی او د هغو د پلي کولو لپار محدوده وړتیا لري. اداري وړتیاوې له کمزورې حکومتولۍ سره نېږدې اړیکې لري. د اداري فساد لیدلوري د ۲۰۱۶ کال په شاخص کې، افغانستان د ۱۷۶ هېوادونو له ډلې څخه ۱۶۹ ځای لري چې له ۱۰۰ څخه یې ۱۵ نومرې اخیستي دي.[7] اداري فساد په قانوني سوداګریز سکټور کې د ودې مخنیوی او د جګړې په شدت کې مرسته کوي، همدارنګه د دولت لپاره د عامو خلکو ملاتړ راکموي. دولت د حکومتولۍ د لوړاوي لپاره ډېر نوښتونه په لاره اچولي دي، لکه په ۲۰۱۶ کال کې د اداري فساد پر ضد د عدلي مرکز تأسیس، د ډېرو وزارتونو له‌خوا د اداري فساد پر ضد پلانونو چمتووالی او د ټول دولت لپاره د اداري فساد پر ضد ستراتیژۍ مسودې چمتو کول.

14. **خصوصي سکټور.** په افغانستان کې خصوصي سکټور د بهرنۍ مرستې په څیر د اقتصادي ودې انجن نه دی ګرځیدلی. یو اټکل دا دی چې د دغه هېواد خصوصي سکټور د ناخالصو کورنیو تولیداتو یوازې ۱۰٪-۱۲٪ برخه تشکیلوي.[8] دا د سوداګرۍ لپاره کمزوري مساعد چاپیریال او پر بهرنیو مرستو د تکیې پایله ده. د کمزوري قانوني او حقوقي چوکاټ، تاوتریخوالي، د اقتصادي اصلاحاتو سوکه پرمختګ، اداري فساد، کمو زیربناوو، ځمکې ته محدود لاسرسي، او نوي راغوړېدونکي مالي سکټور په څیر عواملو د سوداګرۍ کمزورۍ چاپیریال رامنځ ته کړی او د خصوصي سکټور وده یې محدوده کړې ده. خصوصي سکټور هم هغو اټکل شویو ۴۰۰۰۰۰

[5] دملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام، ۲۰۱۶ کال. د بشري پراختیا راپور، ۲۰۱۶کال: بشري پراختیا د هر چا لپاره. نیویارک.
[6] افغان دولت، ۲۰۱۶کال. د ښځو د اقتصادي وړتیا د ملي لومړیتوب پروګرام. کابل.
[7] د روڼتیا نړیواله اداره. د اداري فساد د لیدلوري شاخص ۲۰۱۶کال. https://www.transparency.org/news/feature/corruption_perceptions_index_2016.
[8] ز. غیاثي، ج. ژوو، او ه. هالګرین ۲۰۱۵. د افغانستان خصوصي سکټور: وضعیت او د پرمختګ لار. ستاکهولم.

کسانو لهپاره چې هر کال د کار بازار ته داخلیږي، کافي کاري فرصتونه نه دي رامنځته کړي. دولت هڅې کړې چې د خصوصي سکټور وضعیت ښه کړي، لکه په ۲۰۱۶ کال کې د عامه-خصوصي مشارکت قانون تصویب، د خصوصي سکټور پراختیا په اړه د اجرائیوي کمیټې تأسیس او د خصوصي سکټور اصلاحاتو لومړیتوبونو په اړه د خصوصي سکټور او دولت ترمنځ د همغږۍ روزل او لوړول.

15. **د زیربناوو نشتوالی.** افغانستان د زیربناوو له شدید کموالي سره مخ دی. نه یوازې دا چې د اضافي زیربناوو جوړولو ته اړتیا ده، بلکې شته زیربناوې هم د ساتنې د نشتوالي له امله ویجاړې شوې دي. د زیربناوو کموالی اقتصادي وده راټیټوي او د دندو رامنځتهکوا کموي. په افغانستان کې یوازې ۳۲٪ خلک نښلول شوې بریښنا ته لاسرسی لري، چې دا کچه په لېرې پرتو سیمو کې ۱۰٪ ته رسېږي او د سړکونو شبکې ګڼوالی په ۱۰۰۰ کیلو متره مربع ساحه کې یوازې څلور کیلومتره ده او ۵۲٪ کورنۍ د سړک په دوه کیلومترۍ کې اوسیږي. خو بیا هم، په هغو سیمو کې چې سړکونه شته، یوازې ۷٪ یې پاخه دي او له ۷۰٪ زیات د ولایتونو او ولسوالیو ترمنځ سړکونه په ډېر بیکاره وضعیت کې دي. په کرنه کې، یوازې ۱۰ ٪ خړوبیدونکې ځمکه د اوبو لګونې رسمي سیستمونه لري او پاتې برخه یې په بې ګټې غیررسمي سیستمونو باندې تکیه ده چې د محصولاتو، لوړ عاید او د دندو فرصتونو پر وړاندې ستر خنډونه رامنځته کوي.

## III. د هېواد د ستراتیژۍ کاري چوکاټ

### أ. له مخکینۍ ستراتیژۍ څخه اخیستل شوي درسونه

16. د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ په ۲۰۰۹-۲۰۱۳ کلونو کې د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ له وروستۍ بیاکتنې څخه پر کلیدي زده کړل شویو درسونو او هغو فعالیتونو ولاړه ده چې د ۲۰۱۵ کال تر نیمایي پورې په لار اچول شوي دي.[9] (1) د امنیتي خدمتونو په وړاندې کولو کې د نرمښت منلو اړتیا او دا چې امنیتي ستونزې باید د پروژو په طرحه او پلې کولو کې ډېر مرکزي رول ولري؛ (۲) د دې اړتیا چې پر یو شمېر محدودو سکټورونو تمرکز وشي څو پر دولت او د آسیا پرمختیایي بانک پر سرچینو بار راکم شي؛ (۳) د دې اړتیا چې د پروژو د دخول پر مهال ښه کیفیت، پیاوړې وړتیاوې او د کټورتیا د پرمختیا لهپاره لوړه څارنه موجوده واوسي؛ او (۴) د دې اړتیا چې د پایلو چوکاټونه او څارنه لوړه شي څو د آسیا پرمختیایي بانک د پایلو ترلاسه کول پیاوړي کړي. د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ وروستۍ بیاکتنه ډېرې سپارښتنې لرلې چې ځینې یې دا دي، (۱) پر ټولشموله اقتصادي وده ستر تمرکز؛ (۲) بیلابیلو موضوعګانو او د بدلون محرکاتو ته ډېره پاملرنه؛ (۳) پر ترانسپورت، انرژۍ او کرنیزو او طبیعي زیرمو سکټوري تمرکز ته دوام ورکول؛ (۴) د خصوصي سکټور لهپاره د مساعد چاپېریال ملاتړ؛ او (۵) د خطر ارزونې او خطر مدیریت تګلارو پیاوړې کول. د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ د وروستۍ بیاکتنې اعتبار تاییدوونکی ریپورټ، چې له ۲۰۰۹ کال څخه د ۲۰۱۵ کال تر نیمایي پورې فعالیتونه یې د کیفیت د منښت لهپاره پاتې راغلي بللي ، د دې سپارښتنو د تائید تر څنګ یې لاندې ټکي هم ورزیات کړي دي: (۱) د پروژې امنیتي تدابیر باید له موقعیت او د ساحې له شرایطو سره متناسب وي، (۲) د حکومت وړتیاوې باید لوړې شي، او (۳) کرنیزو او طبیعي سرچینو سره باید ډېره مرسته وشي څو هر اړخیزه او د پایښت وړ وده وکړي.[10] د هېواد د مشارکت دغه ستراتیژي د اعتبار تاییدوونکي ریپورټ درسونو او سپارښتنو ته ځای ورکوي.

### ب. د پراختیا ملي ستراتیژۍ

17. افغانستان اوس د "انتقال لسیزه" (۲۰۱۵-۲۰۲۴ کلونه) کې دی چې غواړي ډېر پر ځان بسیا او د سولې، بیارغاونې، تولید او ودې پر لور وخوځیږي. دغه هېواد د سولې او پراختیا ملي کاري چوکاټ پلې کول په ۲۰۱۷ کال کې پیل کړل.[11] د دغه چوکاټ عمومي لیدلوری ځان بسیاینه او د افغان وګړیو د ژوندانه لوړول او اصلي هدف یې د بیوزلۍ ښه کول او د خلکو د ژوند کچه لوړول دي، په داسې حال کې چې په نورو هدفونو کې یې د دولت قانونیت او اغېزناکتیا او د پایښت لرونکیو دندو رامنځته کول او د ودې دوامدارو موخو پر لور پرمختګ دی. د افغانستان د سولې او پراختیا ملي کاري چوکاټ به د لومړیتوب لرونکیو ملي پروګرامونو له لارې پلې کېږي چې پر پایلو-متمرکز موضوعي پروګرامونه دي او وزارتونو ته د ټولنیزو او پرمختیایي اندیښنو د ځوابولو پر لور لارښوونه کوي.

18. د افغانستان د سولې او پراختیا له ملي کاري چوکاټ وروسته د حکومت د اصلاحاتو تګلاره ده چې د ځان-بسیاینې په تحقق کې بیان شوې او نوم یې دی: داصلاحاتو او نوي شوي مشارکت د ژمنتیا رساله.[12] د اصلاحاتو د دې تګلارې موخه د سولې، بیارغاونې او ودې پر لور د هېواد بیول دي او د اصلاحاتو مهمې اوه ساحې پهکې شاملې دي. یو بل مهم ستراتیژیک سند د ملي زیربناوو د ۲۰۱۷-

---

[9] د آسیا پرمختیایي بانک. د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ وروستۍ بیاکتنه: افغانستان، ۲۰۰۹ نه د ۲۰۱۵ کال تر نیمایي پورې، مانیلا.

[10] د خپلواکې ارزونې څانګه. ۲۰۱۷کال. د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ د اعتبار تائیدوونکي ریپورټ وروستۍ بیاکتنه: افغانسان، له ۲۰۰۹کال څخه د ۲۰۱۵کال تر نیمایي پورې. مانیلا: د آسیا پرمختیایي بانک.

[11] افغان دولت. ۲۰۱۶کال. د افغانستان د سولې او پراختیا ملي کاري چوکاټ (ANPDF)،له ۲۰۱۷ څخه تر ۲۰۲۱ کال پورې. کابل.

[12] افغان دولت. ۲۰۱۴ کال. د ځان بسیاینې تحقق: د اصلاحاتو او نوي مشارکت ژمنتیا. رساله چې د افغانستان په اړه د لندن کنفرانس کې وړاندې شوه. لندن. د ډسمبر څلورمه.

۲۰۲۱ کلونو پلان دی، چې د زیربناوو پلانول، وړاندې کول او فعالول تر پوښښ لاندې نیسي.[13] دا پلان د سکټورونو لومړیتوبونه په ډاګه او د زیربناوو لړۍ وړاندې کوي؛ پالیسۍ، مقررې، او اداري اصلاحات په ګوته کوي. د بېلابېلو سکټورونو ماسټر پلانونه هم شته.

## ت. د پرمختیایي همکارانو رول

19. په ۲۰۰۲ کال کې د بیارغاونې له پیله، پرمختیایي همکارانو د دولتي بودجې لګښتونو غوښنه برخه تشکیل کړې ده. اټکل شوی چې په ۲۰۱۶ کال کې افغانستان ته ورکړل شویو بهرنیو وجوهاتو د ناخالصو کورنیو تولیداتو ۴۸٪ برخه (یا ۹ میلیارډه امریکایي ډالر) تشکیلوله. دغه هیواد به د دولتي فعالیتونو او پرمختیایي لګښتونو پوره کولو لهپاره د بهرنۍ مرستې کافي اندازې ته اړتیا ولري. په ۲۰۱۶ کال کې د افغانستان په اړه بروکسل کنفرانس کې، ډونرانو یو اصلاحي پروګرام تائید کړ څو د افغان دولت ملاتړ وکړي او ډاډ ورکړي چې تر ۲۰۲۰ کال پورې نړیوال سیاسي او مالي ملاتړ دوام ومومي.

20. په افغانستان کې د ډونرانو دندې او سکټورونه او/یا موضوعي ساحې ښې څرګندې دي او له ډېرو کلونو راهیسې څرګندې وې ځکه چې دولت له ډونرانو غوښتي وو څو د هغو سکټورونو شمېر محدود کړي چې دوی یې ملاتړ کوي. د آسیا پرمختیایي بانک ته د دولت د زیربناوو د مخکښ پرمختیایي همکار په سترګه کتل کېږي. تولنیز سکټورونه لکه روغتیا او زده کړې د نړیوال بانک له خوا اداره کیدونکي د افغانستان د بیارغاونې وجهي صندوق (ARTF) او ځینو نورو دوه اړخیزو پروګرامونو څخه د پام وړ فنډونه ترلاسه کوي. اروپایي اتحادیه او نور دوه اړخیز ډونران، د شمال ختیځ هېوادونو په ګډون، د حکومتوالۍ، عدالت او بشري حقونو ملاتړ کوي. د آسیا پرمختیایي بانک څخه ترلاسه کوونکي ملاتړ ترڅنګ، د کرنې سکټور د متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیایي ادارې او اروپایي اتحادیې څخه مرسته ترلاسه کوي. هغه ډونران چې په ورته سکټور کې کار کوي، لیواله دي چې په فرعي سکټورونو کې تخصص ولري (لکه د آسیا پرمختیایي بانک د حلقوي سړک او نړیوال بانک په کلیوالي سړکونو کې) همدارنګه داسې د همغږۍ میکانیزمونه شته چې تکرار راکم کړي.

21. د ډونرانو دوه ستر وجهي صندوقونه شته. د افغانستان د بیارغاونې وجهي صندوق، چې ۳۴ ډونران یې تمویلوي، د ملکي خدمتونو، روغتیا، ښوونې او روزنې، کلیوالي پراختیا، کرنې او حکومتولۍ په څېر سکټورونه تر پوښښ لاندې نیسي او د دولت د تکراري لګښتونو ملاتړ کوي. د آسیا پرمختیایي بانک لهخوا اداره کیدونکی د افغانستان د زیربناوو وجهي صندوق، چې په ۲۰۱۰ کال کې یې بنسټ ایښودل شوی، د زیربناوو لهپاره یوازینی ځانګړی شوی وجهي صندوق دی. دواړه وجهي صندوقونه به په مهمو سکټورونو کې د مشارکت جوړونې او مرستو همغږي لهپاره خپلو مرستو ته دوام ورکوي.

## ث. د آسیا پرمختیایي بانک ستراتیژیکې او موضوعي موخې او د عامه او خصوصي سکټور عملیاتي لومړیتوبونه

22. **د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ د تګلارې عمومي کتنه.** د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ د وړاندیز شوې تګلارې موخه د لا هر اړخیزې او پایښت لرونکې ودې لهپاره د یو پیاوړي بنسټ رامنځ ته کول او د بیوزلۍ د کچې له نور خرابوالي څخه مخنیوی دی. د آسیا پرمختیایي بانک فعالیتونه به پر درېیو ستراتیژیکو بنسټونو تمرکز کوي. (۱) اقتصادي فرصتونو، بازارونو او خدمتونو ته د ښځو او نارینه وو لهپاره پراخه لاسرسی – په زیربناوو پانګونه او د خصوصي سکټور پراختیا به ښځو او نارینهوو ته د دندو، سرچینو، خدمتونو او بازارونو لهپاره ډېر لاسرسی وړاندې کړي؛ په داسې حال کې چې د هېواد دننه او له بهرنیو هېوادونو سره به اړیکې پیاوړې کړي؛ (۲) د سکټور په کچه اصلاحاتو، لوړې حکومتولۍ، وړتیا لوړونې، او مهارتونو د لوړاوي له لارې پیاوړې ادارې او بشري وړتیاوې؛ او (۳) د چاپېریال لوړ شوی پایښت، د اقلیم بدلون او د طبیعي پېښو پر وړاندې پیاوړتیا، چې تمرکز به یې پر چاپېریال پاییدونکې زیربنا، د اقلیم بدلون پیاوړې کوونکې زیربنا او د معیشت او طبیعي پېښو پر وړاندې پیاوړو زیربناوو باندې وي. له دې امله چې د آسیا پرمختیایي بانک به څنګه د نازکتیا او شخړې پر وړاندې غبرګون ښیي څو د پراختیا اغېز لوړ کړي، د هېواد د مشارکت ستراتیژي به د نازک او له تاوتریخوالي اغېزمن وضعیت پر تګلاره ولاړ وي. د نازک او له تاوتریخوالي اغېزمن وضعیت تګلاره به د هغو لارو په ګوته کولو کې مرسته وکړي چې پر بنسټ یې د آسیا پرمختیایي بانک او حکومت پلانونه جوړوي او پروژې پلې کوي.


23. **د لومړیتوب وړ سکټورونه، د بدلون محرکونه او د آسیا پرمختیایي بانک د ارزښت اضافه والی.** د آسیا پرمختیایي بانک به پر درېیو لومړیتوب لرونکیو سکټورونو خپل اوږدمهاله تمرکز ته دوام ورکوي: ټرانسپورټ، انرژي او کرنیزې او طبیعي سرچینې. دا چاره په دې سکټورونو کې د زیربناوو د شدید کموالي او د آسیا پرمختیایي بانک د پرتلهییزو ګټو او مرستو لهپاره د دولت د لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره ترسره کېږي.[14] په دغو سکټورونو کې پانګونه به له اداري اصلاحاتو او پراختیا او د سکټور د ټولیزې تګلارې لهپاره د تخنیکي وړتیا او مهارتونو لوړونې سره مله وي. د بدلون لهپاره لومړنیو محرکونو کې به د جنسیت برابرۍ، د خصوصي سکټور پراختیا، حکومتولي، وړتیا لوړونه او د افغانستان د زیربناوو وجهي صندوق له لارې مشارکتونه شامل وي. د آسیا پرمختیایي بانک د ارزښت زیاتوالی به د هېواد په مشارکت ستراتیژۍ کې د سکټور یوه ټولیزه تګلاره وي، چې پانګونه، وړتیا لوړونه، عملیات

[13] افغان دولت. ۲۰۱۶ کال. د زیربناوو ملي پلان، ۲۰۲۱-۲۰۱۷ کلونه. کابل.
[14] دولت خپله غوښتنه د آسیا پرمختیایي بانک ته د هېواد د مشارکت ستراتیژیو د مشورو په دوران کې وړاندې کړه، جنوري-فبروري ۲۰۱۷ کال.

او ساتنه او نورې ځانګړنې به تر پوښښ لاندې نیسي چې د پایښت لرونکیو پایلو په تضمینولو کې به مرسته وکړي. د ارزښت زیاتوالي نورې بنې د آسیا پرمختیایي بانک د سیمه‌ییزې همکارۍ رهبري او د افغانستان د زیربناوو وجهي صندوق دی، چې د نورو پرمختیایي همکارانو لپاره به د هغوی د لیوالتیا وړ پروژو ګډ تمویل پیاوړي کړي.

24. **سیمه‌ییزه همکاري او اتحاد.** افغانستان د مرکزي او سویلي آسیا د تقاطع ټکي کې پروت دی او له همدې امله د مرکزي آسیا د سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ پروګرام (CAREC) یو مهم غړی دی. دغه هېواد به له خپلو ګاونډیو سره له نېږدې همکارۍ څخه ګټه واخلي او همدا ډول به د خپل موقعیت له امله په دې سیمه کې د اقتصادي یووالي لپاره د پام وړ همکارۍ وکړي. د آسیا پرمختیایي بانک به خپلو هڅو ته دوام ورکوي ځو هم د ترانسپورت او هم د انرژۍ لپاره د سیمې ترمنځ د ترانزیټ ټکي په توګه د افغانستان ورتیا لوړه کړي، چې ډېر تېنګار یې د مرکزي آسیا د سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ پر دهلیزونو او د سیمه‌ییزې انرژۍ پر نوښتونو دی لکه د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هندوستان (TAPI) ګاز نل‌لیکه، د ترکمنستان-ازبکستان—تاجکستان-افغانستان-پاکستان بریښنا نښلولو پروژه، د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان د بریښنا نښلولو پروژه. د دې ترڅنګ، د مرکزي آسیا د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ پروګرام په چوکاټ کې د سوداګرۍ آسانتیا نوښتونه به سیمه‌ییزه سوداګري لوړه او د سیمه‌ییزو بوختیاوو لپاره به ښه فرصتونه رامنځته کړي.

**د افغانستان لپاره د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ لنډیز ( ۲۰۲۱-۲۰۱۷ کلونه)**




سرچینه: د آسیا پرمختیایي بانک

### 1. لومړی رکن: اقتصادي فرصتونو، بازارونو او خدمتونو ته د ښځو او نارینه‌وو پراخ لاسرسی

25. **د انرژۍ او ترانسپورټ زیربناوو د پوښښ زیاتول او د ساحې پراخول.** افغان دولت د بیوزلۍ راکمولو هدفونو ترلاسه کولو لپاره، د باوري انرژۍ په وړاندې کولو کې د پام وړ زیاتوالي ته اړتیا لري. د انرژۍ او بریښنا وړاندې کول بې شمېره پرمختیایي ګټې لري، لکه د دندو موندل، د بیوزلۍ راکمول، د تولیداتو زیاتوالی، د عاید لوړاوی، د جنسیت لوړ شوی برابری او د روغتیا او زده کړو غوره پایلې. د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ ( ۲۰۱۳-۲۰۰۹ کلونه) د انرژۍ له لاندې پروګرام څخه مهم بدلونونه دا دي چې د آسیا پرمختیایي بانک به د بریښنا د فرعي سکټور (د بریښنا تولیدول او ویشل له انتقال سره) د پراختیا لپاره یوه ښه متوازنه تګلاره، غوره جغرافیوي تنوع،(د شبکې او له شبکې پرته پراختیا په شمول) او د نوې کیدونکې انرژۍ لپاره به ښه ملاتړ ولري.

26. د آسیا پرمختیایي بانک به زرګونو کورنیو، سوداګریزو ځایونو، ښوونځیو او روغتیایي مرکزونو ته د ویشوونکو شبکو غځولو له لارې د هېواد د بریښنایي کیدلو کچه لوړه کړي، چې دا به د یاد بانک د انرژۍ فعالیتونو د لازیات پوښښ لپاره یو مهم ګام هم وي. دغه پروګرام به په لاپرو سیمو کې بریښنا وویشي، چې ډېری یې د بیوزلۍ لوړه کچه لري. د هېواد لا ډېرو برخو ته د بریښنا ویش به اقتصادي فرصتونه وهڅوي چې د صنعت او سوداګرۍ برخه کې د نویو لیکو او دندو پیداکول هم پکې شامل دي.

27. د آسیا پرمختیایي بانک به له سیمه‌ییزو او کورنیو کرښو سره د بریښنا لېږد کې مهم رول لوبولو ته دوام ورکړي. په سیمه‌ییزه کچه، له ترکمنستان څخه غځېدونکې اتصالات او د بریښنا واردات به د انرژۍ سوداګرې وغځوي او سیمه‌ییزه همکاري به زیاته کړي، په داسې حال کې چې د انرژۍ-شتمنې مرکزي آسیا او انرژۍ- کمزورې سویلي آسیا ترمنځ به د بریښنا د ترانزیت دهلیز په توګه د افغانستان دریځ هم پیاوړی کړي. افغانستان د ترکمنستان-ازبکستان-تاجکستان-افغانستان-پاکستان په سیمه‌ییز نوښت او وړاندیز شوي د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان بریښنا نښلولو پروژه کې مرکزي رول لري. دغه بانک به په کورنۍ کچه خپل د لېږد چارې په توپیر لروونکې بڼه ترسره او ختیځو، لویدیځو او مرکزي ولایتونو ته به د بریښنا مزو په غځولو سره خپل پوښښ لازیات کړي.

28. د آسیا پرمختیایي بانک به د دې لپاره چې د کورنۍ بریښنا امنیت لوړ، د بریښنا رسونې کچه او ښه روښانه انرژي وړاندې کړي، د نوې کیدونکې انرژۍ تولیدولو په پروژو کې په ښکیل شي. لږ تر لږه یوه د لمریزې بریښنا پروژه به د دې لیدلوري د ثبوت په توګه وړاندې شي څو د لمریزې بریښنا لپاره د افغانستان پراخه وړتیا ثابته کړي. په کورنۍ کچه به پاکه انرژي د هایدروپاور پر مټ تولید شي. دغه بانک به د هېواد لپاره د مشارکت ستراتیژۍ په بهیر کې د سیند په روانو اوبو د چلیدونکو هایدروپاور پروژو د امکاناتو اضافي څېړنې هم ترسره کړي.

29. د آسیا پرمختیایي بانک به د ګاز په فرعي سکټور کې د ځاګانو د بیارغاونې له لارې د کورنې ګازو پر تولید تمرکز کوي. کورنۍ ګازي ځاه ګانې به د صنعت او سوداګرۍ کارونې لپاره په ورځ کې په میلیونونو مکعب متره اضافي ګاز تولیدوي، چې د صنعتي تولید په پراختیا، د نویو دندو په پیداکولو او د تولیداتو په زیاتولو کې به مرسته وکړي. دغه بانک به همدا ډول د مرکزي آسیا د سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ پروګرام د مهمې پروژې یعنې تاپي ګازو نل لیکې ته د اسانتیا برابرولو ته دوام ورکړي، چې په کال کې به ۳۳ بلیونه مکعب متره طبیعي ګاز له ترکمنستان څخه افغانستان، پاکستان او هندوستان ته صادروي. افغان دولت له آسیا پرمختیایي بانک څخه غوښتې څو د تاپي ګاز نل لیکې په تمویل کې مرسته وکړي.

30. د ترانسپورټ شبکې پراختیا د لوړې ملي او سیمه‌ییزې نښلونې، لوړې اقتصادي ودې او د اقتصادي ودې لوړ پوښښ لپاره حیاتي رول لوبوي. د آسیا پرمختیایي بانک به د لویو سړکونو د رغاونې او بیارغاونې له لارې، چې د مرکزي آسیا د سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ پروګرام دهلیزونو ۲،۵ او ۶ برخې هم پکې شاملې دي، او همدا ډول د ملي حلقوي سړک رغاونې له لارې د سړکونو د شبکې د پراختیا ملاتړ ته دوام ورکوي (د هیواد د نفوس دوه پر درې برخه د دې سړک په ۳۶ کیلومترۍ کې ژوند کوي). د مرکزي آسیا د سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ پروګرام دهلیزونه به سترې سیمه‌ییزې همکارۍ رامنځته کړي، څو له افغانستان سره مرسته وکړي چې د سیمه‌ییز ترانزیټ د تمرکز ټکی شي او سیمه‌ییزه سوداګري لوړه کړي. د حلقوي سړک بشپړېدل به په داخلي کچه د افغانستان په یو موټي کیدلو کې مرسته وکړي او هر اړخیزه وده به ترویج کړي. د سړکونو نور نوښتونه به شمالي او مرکزي سړکونه سره ونښلوي څو د ترانزیت نوې شبکې رامنځته کړي، لرې پرتې پر کرنې- متکې ټولنې له اجناسو او د کار له بازارونو سره ونښلوي او د ودې مرکزونه او ښاري بازارونه به له یو بل سره یو موټي کړي. همدا ډول په سړکونو دغه پانګونې به سیمه‌ییزو ټولنو ته ګټه ورسوي څو نویو دندو او همدا ډول زده کړو، روغتیا او نورو ټولنیزو خدمتونو ته د لاسرسي فرصتونه ومومي.

31. د آسیا پرمختیایي بانک به د سړکونو د حفظ او مراقبت ملاتړ ته په دوام سره ډاډ ورکړي چې د وخت په تیریدو سره هم د سړکونو شبکې د پایښت لرونکیو ګټو وړاندې کولو ته دوام ورکوي. لوړ شوي عملیات او ساتنه به پر سړکونو د نقلیه وسایطو او خلکو لپاره د سړک لوړ خوندیتوب رامنځته کولو کې مرسته وکړي.

32. د آسیا پرمختیایي بانک به هغه فرصتونه راڅرګند کړي څو د اورګاډي پټلۍ د هېواد دننه وغځوي او له ګاونډیو هېوادونو سره د اورګاډې نوې پټلۍ تأسیس کړي. د اورګاډي غځېدلې پټلۍ به د ترانسپورټ په حجم کې زیاتوالی راولي، د ترانسپورټ قیمت به

راکم او د افغانستان د کانونو شتمنی ته به لاسرسی تأمین کړي، چې له منځ مهال څخه تر اوږدمهاله پورې د ودې مهم احتمالي محرک دی. د منرالونو ستري کچې اورګاډو ته اړتیا لري څو د پروسس مرکزونو یا د صادراتو بازارونو ته ولیږدول شي چې د آسیا پرمختیایي بانک به د اورګاډو پټلی پلانونو پر مهال همغږی او همدا ډول به اورګاډي سیمه‌ییز یووالی او بې خنډه اتصال رامنځ ته کړي، ځکه چې اوس واردات او د ترانزیت اجناس له ګاونډیو هېوادونو څخه د افغانستان تر پولو په اورګاډي کې راوړل کېږي او بیا له هغه ځایه د افغانستان ته دننه په موټرو راوړل کېږي.

33. د آسیا پرمختیایي بانک به د انرژۍ او ترانسپورت فعالیتونو کې هلې ځلې وکړي څو د ولسي تړون پروګرام په چوکاټ کې د کلیوالي زیربنایي پروژو په اړه له حکومت سره همغږي وکړي، چې د برېښنا او سړکونو لاسرسی به هم پکې شامل وي. د ولسي تړون پروګرام د دولت لهخوا یوه ژمنتیا ده چې د افغانستان هر کلي ته به بنسټیز خدمتونه وړاندې کوي.

34. **د کرنیزو او طبیعي سرچینو پراختیا.** د بیوزلۍ راکمولو او هر اړخیزې ودې کلی د کرنې او اوبو سرچینو ته پراختیا ورکول دي. د دې ترڅنګ چې کرنه د اقتصاد لهپاره د ودې د انجن په توګه کار کوي، د دغه سکټور پراختیا به د زیاتې ګومارنې، لوړو عایداتو او د اوبو سرچینو د ښه عادلانه ویش له لارې په کلیوالي سیمو کې د سولې او ثبات په ټینګولو کې مرسته وکړي. د آسیا پرمختیایي بانک تمرکز به د خړوبولو او اوبو سرچینو د زیربناوو پر وړاندې کولو، بیارغاولو او د کرنیزو بازارونو د زیربناوو پر پراختیا او د ارزښت زنځیرونو باندې وي.

35. دغه بانک به د اوبو لګولو زیربناوې بیاورغاوي او عصري به یې کړي همدارنګه به د اوبو تويیدو مدیریت کچه لوړه کړي څو د اوبو لګولو پروګرامونه له سیلابونو وژغوري او له ښکته پرتو سیمو ته د اوبو په رسولو کې ښه‌والی راولي. د کرنې لهپاره د اوبو شتون او ګټورتیا لوړاوي باندې پانګونه به د لرې پرتو سیمو خلکو ته بې شمېره ګټې ورسوي: د حاصلاتو او تولیداتو زیاتوالی، د فصلونو تنوع، د خوړو غوره خوندیتوب او د لوړ ارزښت لروونکیو تولیداتو زیات صادرات لکه میوې او پلې. د بزګرو کورنیو عایدات به لوړ او په زرګونه د پوره ورځې کلیوالي دندې به رامنځته شي.

36. د اوبو سرچینو نورې زیربناوې به د اوبو د غوره ذخیرو او لېږدوونکیو سیستمونو له لارې خلکو ته خوندي اوبه ور رسوي. د افغانستان لهپاره د اوبو د نوي ذخیرې تکنالوژي به د ښاري اوبو رسونې له اړخه څوګونې دندې ترسره کوي، د کرنیزو ځمکو خړوبولو لهپاره اوبه رسول او د هایدروپاور تولید.

37. د آسیا پرمختیایي بانک به د کرنې مارکېټ زیربناوو او د ارزښت زنځیر پراختیا د ډېر ټینګار له لارې د خپلو کرنیزو او طبیعي سرچینو فعالیتونو ته یوه ښه موازنه ورښېي، او که شونې وي نو د ترانسپورت نوښتونو پورې به تړاو ورکوي همدارنګه به د هارټیکلچر مارکېټ زیربناوو کې پانګونه او د اسانتیاوو او سوداګریزو فعالیتونو د لوړاوي ملاتړ به کوي، چې د پرمختللیو حاصل راتولوونکیو ټکنالوژیو او بازارموندنې دودونو سره هوکړه به هم پکې شامله وي. دغه بانک به د دولت له نورو نوښتونو او پرمختیایي همکارانو سره همغږي کوي څو د پرمختیایي همکارانو د پرتلهییزو ګټو پر بنسټ د ارزښتونو زنځیر ته په هراړخیزه توګه ځواب ووایي. د ارزښتونو زنځیر کې ګټه اخیستونکي هم باید لوړ عایدات له لاندې شیانو ترلاسه کړي: (۱) له لوړو بیو چې د تولیداتو د پرمختللي کیفیت او پروسس له لارې د ارزښت زیاتولو څخه لاسته راځي، او (۲) د اجناسو د ستري کچې خرڅلاو څخه. ډېره پاملرنه به د کرنې مارکېټ زیربناوو او د ارزښت زنځیر پراختیا کې د ښځو د ګډون پر زیاتوالي وي، ځکه چې په دغه سکټور کې د ښځو احتمالي ګومارنه زیاته لیدل کېږي. په کرنه کې د ښځو زیات ګډون بیوزلي او د جنسیت نابرابري راکمولی او د ودې هر اړخیز پوښښ زیاتولی شي.

## 2. دویم رکن: پیاوړي اداري او بشري وړتیاوې

38. په افغانستان کې د وړتیا پر وړاندې خنډونه ډېر زیات دي. په عمومي توګه دولتي اداري ډېرې محدودې تخنیکي او مالي وړتیاوې لري، چې د خدمتونو وړاندې کولو او پرمختیایي پروژو په پلي کولو کې یې د دوی وړتیا راکمه کړې ده. اداري پیاوړتیا او د بشري وړتیا لوړول به د انرژۍ، ترانسپورت او کرنیزو او طبیعي سرچینو او همدا ډول د خصوصي سکټور پراختیا سره مل وي، چې د عامه-خصوصي مشارکتونو لهپاره د وړتیاوو پر لوړاوي تمرکز کوي. د سکټور په کچه اصلاحاتو؛ لوړې شوې حکومتولۍ؛ روڼتیا او د اداري فساد پر ضد نوښتونو؛ او د مهارتونو لوړاوي، په ځانګړې توګه د زیربنایي پلانونو، د پروژې مدیریت، او زیربناوو د تمویل له لارې اداري پیاوړتیا به د عامه سکټور اغېزناکتیا او ګټورتیا زیاته کړي. د آسیا پرمختیایي بانک به د پایلو پر بنسټ وړتیا لوړنې پروژې سره چې د افغانستان د بیارغاونې وجهي صندوق لهخوا تمویلیږي، همغږي رامنځته کړي.

39. **د انرژۍ سکټور اداري پیاوړتیا او د لمریزې برېښنا نوې وړتیاوې.** د انرژۍ په برخه کې به د آسیا پرمختیایي بانک د اوبو او برېښنا وزارت او د افغانستان د برېښنا شرکت، چې د برېښنا دولتي شرکت دی، د وړتیاوو پیاوړي کولو ته دوام ورکوي او د عملیاتو،ساتنې، پلان جوړونې، د پروژې مدیریت، تدارکاتو، تخنیکي مهارتونو او خوندیتوبونو په برخو کې به یې ملاتړ وړاندې کوي. د دې لهپاره چې د افغانستان برېښنا شرکت په یوه ښه پایښت لرونکي شرکت تبدیل شي، دغه بنسټ به د نوموړي شرکت سوداګریز

پلانونه، مدیریت او مالي ورتیاوې لوړې کړي. د وړتیا لوړوني یوه نوې ساحه به د لمریزې بریښنا وي. د آسیا پرمختیایي بانک به د افغانستان بریښنا شرکت او اوبو او بریښنا وزارت کارکوونکیو ته د لمریزې فوتوولتائیک فابریکې د طرحې، تخنیکي ارزونې، عملیاتو، ساتنې او د شبکې ادغام اړوند وړتیا لوړونه وړاندې او له دولت سره به د نوې د تجدید وړ ملي انرژۍ د طرحې په پلې کولو کې مرسته کوي چې د اوبو او بریښنا وزارت او د افغانستان د بریښنا شرکت په ملاتړ سره چمتو شوې ده.[15]

40. **د ترانسپورت سکټور کې اداري پراختیا.** د آسیا پرمختیایي بانک به د ترانسپورت په سکټور کې د ترانسپورت ادارو د ماموریتونو او مسوولیتونو په ساده او منطقي کولو او د سړکونو مدیریت د پایښت لرونکیو دودونو په تأسیس کې مرسته کوي؛ په ځانګړې توګه د سړکونو د شتمنۍ مدیریت او د سړکونو په ساتنه کې او د ټولګیو او د دندې پر مهال روزنو له لارې به د ټولګټو چارو وزارت تخنیکي وړتیاوې لوړوي، څو سړکونه فعال او خوندي وساتي. دغه بانک به د سړکونو د یوې خپلواکې ملي اداري، د ترانسپورت د یو انسټیټیوټ او د سړکونو د یو وجهي صندوق د تأسیس ملاتړ کوي، چې مشرې یې د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیایي اداري پر غاړه ده. د سړکونو فنډ په تأسیس کې به د آسیا پرمختیایي بانک ملاتړ د سړکونو د فرعي سکټور پایښت لوړ کړي، چې د شبکې غځول یې تجربه کړي دي خو د عملیاتو او ساتنې لپاره یې کافي فنډ ترلاسه کړی نه دی. د سړکونو فنډ به د سړکونو د شتمنۍ مدیریت سیستم په معرفي کې حیاتي رول ولري چې دوامداره ساتنې ته به لاره هواره کړي.[16] یاد بانک به همدا ډول د افغانستان د اورګاډي اداري د اداري پراختیا ملاتړ هم کوي او د عامه ترانسپورت چارواکیو ته به اضافي وړتیا وړاندې کړي څو د پالیسۍ جوړول او پلانول، د پروژې طرحه او پلې کول، خوندیتوبونه، اداره او مالي مدیریت لوړ کړي. دا چاره د مهمو وزارتونو د پروژو وړاندې کولو واحدونو کې دننه د ملي او نړیوالو متخصصینو په ځای پر ځای کولو سره ترسره کېدی شي څو دولتي چارواکیو ته مشورې ورنه څارنه وکړي. همدا ډول دا چاره په افغانستان او سیمه کې د ټولګیو د رسمي روزنیزو پروګرامونو له لارې هم ترسره کېدی شي.

41. **د کرنیزو او طبیعي سرچینو ادارو د کاروونکیو د ټولنو او د بزګرو ټولنو د وړتیاوو پیاوړي کول.** د کرنیزو او طبیعي سرچینو نوښتونه به د دولتي ادارو او سیمه‌ییزو ټولنو وړتیاوې لوړې کړي. د آسیا پرمختیایي بانک به هڅې کوي څو د اوبو سرچینو د متحد مدیریت لپاره پالیسۍ او اداري چوکاټ جوړ او د اوبو رسونې د پایښت‌لرونکیو او عادلانه فعالیتونو او د اوبو لګولو د مدیریت اسانتیاوو په اړه د عامه ادارو کارکوونکیو ته روزنه ورکړي. همدارنګه به اړوندو وزارتونو او د پروژې مدیریت کارکوونکیو ته د پروژې د مدیریت په اړه روزنه ورکوي او فرصتونه به پیدا کوي څو  دولتي چارواکیو ته رسمي سند لرونکي او بې سنده روزنې وړاندې کړي.

42. د آسیا پرمختیایي بانک به د اوبو کاروونکیو او د اوبو لګوونکیو ټولنو د پیاوړي کولو او تأسیس ملاتړ کوي، د اوبو سرچینو متحد مدیریت ته په رسیدګې کې به د دې ټولنو وړتیاوې لوړوي او د اوبو لګولو زیربناوو د عملیاتو او ساتنې لپاره به دوی ته روزنه ورکوي. دغه بانک به په اوبو کاروونکیو او اوبو لګوونکیو ټولنو کې د ښځو د غړیتوب لوړاوي ته ځانګړې پاملرنه کوي او که مناسبه وي نو د سړیو لپاره به ځانګړي روزنیز پروګرامونه وړاندې کړي څو د اوبو کاروونکیو او د اوبو لګوونکو ټولنو کې د ښځو د شمولیت د ارزښت په اړه ورته پوهاوی ورکړل شي. په ټیټو کې د روزنې فعالیتونو کې به د ټیټو د اوبو اداره کولو کې له بزګرانو سره مرسته کول، له حاصل ټولولو مخکې او وروسته ملاتړ، د کرنې د نویو میتودونو او کرنیزو لارو چارو معرفي او د ارزښت زنځیر پراختیا لپاره د نویو ټکنالوژیو کارول شامل دي. بانک به په ټیټو کې د اوبو مدیریت او کرنیزو تخنیکونو لپاره روزنو کې ښځو ته ونډه او په کورنیو باغچو کې د ترکارۍ او میوو کرلو په اړه هغوی ته ځانګړې روزنه ورکړي.

43. **د عامه-خصوصي مشارکتونو لپاره مساعد چاپېریال.** د آسیا پرمختیایي بانک به د وړتیاوو لوړاوي ملاتړ وکړي څو د عامه-خصوصي مشارکتونو لپاره چاپېریال مساعد شي او په دې ساحه کې د نړیوال بانک رواني مرستې بشپړې کړي. د یاد بانک مرسته به د دغه بنسټ د عامه-خصوصي عملیاتي پلان له بنسټونو سره سمه وړاندې کېږي.[17] د آسیا پرمختیایي بانک به تر لومړي بنسټ لاندې (وکالت او وړتیا لوړونه) د دولت د وړتیاوو په لوړولو کې مرسته کوي څو د عامه-خصوصي مشارکت پالیسۍ اصلاحات په غاړه واخلي او د زیربناوو لپاره د عامه-خصوصي مشارکت پروژې په نښه او طرحه کړي. همدارنګه به تر دویم بنسټ لاندې (مساعد چاپېریال) د پالیسۍ، حقوقي او اداري چاپېریال مساعدولو له اصلاحاتو ملاتړ وکړي، چې د مناسبو قوانینو د تسوید او په مهمو کلیدي قوانینو کې د تعدیلاتو راوستلو ملاتړ هم پکې شامل دي. په ورته وخت کې، کله چې په افغانستان کې د عامه-خصوصي مشارکت لپاره چاپېریال ډېر مساعدېږي، یاد بانک به هم هڅه کوي چې تر دریم بنسټ لاندې (د پروژو پراختیا) مرسته وړاندې کړي څو پروژو ته پراختیا ورکړي، چې د پروژو د سکرین کولو او تحلیل وسایل هم په کې راځي. په داسې حال کې چې په افغانستان کې د آسیا پرمختیایي بانک لومړنۍ هڅې به د عامه-خصوصي مشارکت لپاره د عمومي چاپېریال پر مساعدولو متمرکزې وي، دغه  بانک به په نوې کیدونکې انرژۍ، د بریښنا تولید او ګازو پراختیا کې هم احتمالي عامه-خصوصي مشارکتونه راڅرګند کوي.

---

15 د آسیا پراختیایي بانک ۲۰۱۴ کال. د نوې کیدونکې انرژۍ پراختیا لپاره د افغانستان اسلامي جمهوریت ته تخنیکي مرسته. مانیلا.

16 د آسیا پرمختیایي بانک د حفظ او مراقبت لپاره یوه روانه پروژه لري: د آسیا پرمختیایي بانک ۲۰۱۶کال. د رئیسه پلاوي مشر ته راپور او سپارښتنې: د سړکونو شتمنۍ مدیریت پروژې لپاره د افغانستان اسلامي جمهوریت ته ورکړل شوی امتیاز. مانیلاړ.

17 د آسیا پرمختیایي بانک  ۲۰۱۲کال. عامه خصوصي فعالیت پلان، ۲۰۲۰-۲۰۱۲کلونه- د ۲۰۲۰کال ستراتیژۍ  لپاره د لیدلوري درک: د آسیا پرمختیایي بانک فعالیتونو کې د عامه-خصوصي مشارکتونو د بدلون وړ رول. مانیلا.

44. د دولت د ملاتړ د هلوځلو د يوې برخې په توګه به د آسيا پرمختيايي بانک د افغانستان د زيربناوو وجهي صندوق له لارې د ماليې وزارت د عامه-خصوصي مشارکت  په واحد کې د عامه-خصوصي مشارکت د سلاکار بست تمويلوي او له ژمنې سره سم به چې خصوصي سکټور د دې جوګه کړي چې د ياد  بانک په پروژو کې يو فعال ونډه لرونکی واوسي، دغه سلاکار به له نږدې څخه په خصوصي سکټور کې ښکيل وي څو په افغانستان کې د عامه-خصوصي مشارکت ستونزو په ځوابولو کې مرسته وکړي.

## 3. درېيم رکن: د چاپيريال لوړ شوی پايښت، د اقليم بدلون او د طبيعي پېښو پر وړاندې پياوړتيا

45. د ستراتيژۍ د درېيم رکن موخه (۱) د چاپيريال خونديتوب، بيارغاونې، او لوړې او پايښت لروونکې چارې؛ او (۲) د اقليم بدلون او طبيعي خطرونو پر وړاندې پياوړتيا رامنځ ته‌کولو پر مټ د چاپيريال د پايښت لرونکې ودې دودول دي. د آسيا پرمختيايي بانک هڅې به له دولت سره د اقليم بدلون په اړه د ملګرو ملتونو د کنوانسيون پلي کولو پر لور پرمختګ کې مرسته وکړي چې دولت يې اراده لري.[18]

46. **د طبيعي سرچينو خونديتوب، رغاونه او مديريت.** د آسيا پرمختيايي بانک به د طبيعي سرچينو په خونديتوب، رغاونه او مديريت کې مرسته کوي څو د اقليم او د طبيعي خطرونو پر وړاندې پياوړتيا زياته او د چاپيريال په پايښت کې مرسته وکړي. د چاپيريال ساتنې او رغاونې ډېری هڅې به د اوبو تويېدلو مديريت له لارې وي چې د اوبو تويېدنو او خړوبولو پروګرامونو پر شاوخوا د اصلي ځنګلونو او شاړو ځمکو د سمسورتيا پر مټ به د اوبو لاسرسي او د وچکالۍ پر وړاندې ستونزې راکمې  او د اورښت نفوذ او بېرته جذب به زيات کړي، همدارنګه به د سيلابونو اغېز کم او د خاورو رسوب او د ځمکې ښوييدنې کچه به راښکته کړي. بانک به له دولت سره نېږدې همکاري کوي څو د اوبو تويېدنې حوزو او د شاړو ځمکو د خونديتوب او ساتنې لپاره د طبيعي سرچينو د مديريت پلانونه چمتو او پلي کړي.

47. **د اقليم بدلون او د طبيعي پېښو پر وړاندې پياوړې زيربناء.** د آسيا پرمختيايي بانک به له مناسبې طرحې، د رغاونې معيارونو او ټکنالوژۍ څخه کار واخلي څو زيربناوې د اقليم پر وړاندې مقاومت لرونکې کړي او د جيوفزيکي او هايدروميټيورولوژيکي خطرونو پر وړاندې پياوړې واوسي. دا چاره به د کرنيزو او طبيعي سرچينو پر زيربناوو په لوړ خطر لرونکيو او برسيرنو ساحو کې پلي کېږي او د سيلاب-ضد سړکونه او د اوبو لګولو د داسې سيستمونو طرحه کول به په کې شامل وي چې د سيلابونو او له اقليم څخه راپورته کيدونکې وچکالۍ پر وړاندې د پياوړتيا تدابير ولري. دغه بانک به له دولت سره د طبيعي پېښو پر وړاندې پياوړې طرحې او د رغاونې معيارونو او فعاليتونو، د خطر پر وړاندې حساسو ځمکو کارولو پلان جوړونې او د طبيعي پېښو د خطرونو مديريت لپاره د وړتياوو په لوړاوي کې مرسته کوي.

48. د کرنيزو او طبيعي پېښو سرچينو پروژو کې به هغه کرنيزې کړنې شاملې وي چې د اقليم بدلون او طبيعي پېښو د اغېزو پر وړاندې مقاومت لرونکې وي، لکه د اوبو ذخيرې ټکنالوژۍ، غوره څارنه، د اوبو او ځمکې مديريت او د سطحې او تر ځمکې لاندې اوبو غوره ذخيره. دا پروژې به د هوکړې تدابير هم ترويج کړي، لکه د فصلونو د جنتري او د فصلونو د کرلو د ميتودونو بدلون څو د اوبو او د حاصلاتو د کموالي اړوند خطرونه راکم کړي او د کرنې، معيشت، د اقليم بدلون او طبيعي خطرونو پر وړاندې ډېر مقاومت لرونکی واوسي.

49. دا چې افغانستان د طبيعي خطرونو له امله رامنځ ته کيدونکو ناورينونو پر وړاندې زيانمنونکی دی، نو د آسيا پرمختيايي بانک به له اړتيا سره سم د طبيعي ناورين وروسته بيارغاونه کې خپلو مرستو ته دوام ورکوي. د زيربناوو بيارغاونه به وروسته له هغه چې د خلکو معيشت د ناورين له امله اغېزمن شی، د کليوالي اتصال په بيارغاونه کې مرسته وکړي او مارکيټونو ته به د خلکو لاسرسی آسانه کړي.

50. د دغه رکن يو مهم اړخ به له چاپيريال سره د جوړجاړي وړ چاپيريال پياوړتيا وي، لکه د اورګاډي پټلۍ او نوې کيدونکې انرژي (۲۸ او ۳۲ شمېرې پراګرافونه). د سړکونو ترانسپورت او فوسيل سونګ توکو انرژۍ په پرتله، اورګاډي او نوې کيدونکې انرژي د شنو خونو ګاز انتشارات راکمولی شي. د سړکونو له لارې ترانسپورت اوس مهال په افغانستان او ګاونډيو هېوادونو کې د اجناسو د لېږد رالېږد غوره لاره ده. په هر حال، په افغانستان کې له ټرکونو او موټرو څخه انتشارات د شنو خونو ګازاتو او اقليم بدلون کې ډېره برخه لري. اورګاډي د سړکونو يا هوايي ترانسپورت په پرتله لږه انرژي مصرفوي او لږ کاربن ډای اکسايډ توليدوي، همدارنګه د هر مسافر پر سر د اورګاډي لپاره د ځمکې کارولو اندازه له موټرو او ټرکونو څخه ډېره کمه ده.

---

[18] د اقليم بدلون په اړه د ملګرو ملتونو چوکاټ کنوانسيون. ۲۰۱۵ کال. د افغانستان اسلامي جمهوريت: په ملي کچه تشخيص شوي همکارې، د اقليم بدلون په اړه د ملګرو ملتونو چوکاټ کنوانسيون ته سپارنه .
http://www4.unfccc.int/ndcregistry/PublishedDocuments/Afghanistan%20First/INDC_AFG_20150927_FINAL.pdf.

51. ډېرو کورنیو او سوداګریو ته د برېښنا شبکو غځول به د ډیزلي جنراتورونو او د پخلی او تودوخې لپاره د لرګیو یا نورو بوټو کارول راکم کړي. د دې ترڅنګ، دا به هغو ښځو ته روغتیایي ګټه ولري چې د پخلي لپاره په عمده توګه لرګي یا نور بوټي کاروي. همدا ډول د ګاز او نوې کیدونکي انرژۍ له لارې د اصلي برېښنا تولید د پراختیا لپاره به د آسیا پرمختیایي بانک ملاتړ په تدریجي توګه د برېښنا پر هغو سرچینو تکیه کمه کړي چې چاپیریال ککړوي.

**ج. د پوهاوي ملاتړ لپاره لومړیتوبونه**

52. د آسیا پرمختیایي بانک به په عمده توګه په زیربناء سکټور کې د پوهاوي پربنسټ تولیداتو او خدمتونو وړاندې کولو باندې تمرکز ته دوام ورکوي، خو په هغو ساحو کې به هم دې چارې ته دوام ورکوي چې د غوښتنې پر بنسټ ملاتړ ته اړتیا لري. د زیربناوو اړوند د پوهاوي پر بنسټ تولیدات او خدمتونه به د دغه بانک د پانګونې پروژې بشپړې او بانک به د دې جوګه کړي چې د وړتیا او پوهاوي له پخوانیو نوښتونو څخه ګټه واخلي څو په دې سکټورونو کې د اداري او بشري پانګې جوړولو لپاره اوږدمهالي او ښې پایښت لرونکي تګلارې وړاندې کړي. د پوهاوي تولیداتو او خدمتونو له اسهامو وروسته به بانک د زیربناوو د پوهاوي پر بنسټ تولیداتو او خدمتونو کې د زیربناوو پلانول، د پروژې پلي کول، تدارکات او د سکټور پر بنسټ پوهه او مهارتونه ځایوي او د پوهاوي پر بنسټ تولیدات او خدمتونه د پانګونې پروژو د اجزاوو په څېر او د تخنیکي مرستې له لارې وړاندې کوي. د دې ترڅنګ به دغه بنسټ هڅه کوي چې د افغانستان لپاره مناسبو نوښتونو ته، د پانګونې پروژو د یوې برخې په توګه ځای ورکړي، لکه عامه-خصوصي مشارکت او د نازک او له ناوتریخوالي اغېزمن وضعیت تګلارې.

53. د آسیا پرمختیایي بانک به له دولت او خصوصي سکټور سره په همکارۍ د پوهاوي ملاتړ وړاندې او د بېلابېلو سکټورونو د پروژو پلي کولو حل لارو په اړه به له پرمختیایي همکارانو سره ګډې هلې ځلې کوي. د مدني ټولنې اداري، نادولتي مؤسسې او د څېړنې او روزنې سیمه‌ییزې ادارې به د پوهاوي تولیداتو او خدمتونو په خپرولو او لوړاوي کې ښکیلې وي.

## IV. د ستراتیژۍ پلي کول

**أ. د سرچینې ښودونکي پارامترونه**

54. افغانستان د الف ګروپ هېواد دی چې یوازې د آسیا پرمختیایي صندوق ته لاسرسی لري او د پورونو د تنګسې ډلبندۍ د لوړ خطر له امله د ۱۰۰٪ بلاعوضه مرستې وړ دی.[19] د آسیا پرمختیایي صندوق (ADF 12) ۱۱ بیاکتنه افغانستان ته د ۲۰۲۰ کال تر پایه له جګړو وروسته هېواد په توګه استثنایي مرستې چمتو کوي. د ۲۰۱۷-۲۰۲۱ کلونو په موده کې د افغانستان لپاره ښودل شوی تخصیص نږدې ۸۸۷ میلیونه امریکایي ډالر اټکل شوی، چې د سرچینو د شتون او پروژو د چمتووالي تابع دی.[20] خپلواک فعالیتونه به د انرژۍ، ترانسپورت او کرنیزو او طبیعي سرچینو سکټورونو اړوندو پروژو باندې تمرکز کوي، چې د دولت لپاره له زیربناوو پانګونې سره د وړتیا لوړونې یو ترکیب وي. د آسیا پرمختیایي بانک به خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوي چې د افغانستان د زیربناوو وجهي صندوق لپاره لا ډېر ډونران راجلب کړي څو پروژې تمویل او د افغانستان لپاره د سرچینو یوه ښه کڅوره وړاندې کړي. دغه بانک به، لکه څنګه چې په ۵۹ پاراګراف کې تشریح شوي، د غیرخپلواکو فعالیتونو لپاره هم فرصتونه لټوي.

55. د آسیا پرمختیایي بانک به د دولتي بودیجې له لارې د خپلې ۱۰۰٪ مالي مرستې په وړاندې کولو سره په افغانستان کې د ټاکلي هېوادني سیستمونو کارولو ترویج ته دوام ورکوي. د لګښت شریکولو پارامترونه په پخواني حالت کې دي او بانک د دې جوګه کوي چې تر ۹۹ ٪ پورې د مرستندوی او تخنیکي مرستو لګښتونه تمویل کړي.

**ب. د پلي کولو لومړیتوبونه**

56. **د نازک او له ناوتریخوالي اغېزمن وضعیت تګلارې (FCAS).** د آسیا پرمختیایي بانک په خپلو فعالیتونو کې د نازک او له جګړې څخه اغېزمن وضعیت تګلارې کاروي. په دې کې په سوداګریزو کړنلارو کې د نرمښت منلو څخه کار اخیستل شامل دي چې د نازک او له ناوتریخوالي اغېزمن وضعیت لرونکیو هېوادونو لپاره اجازه لري او په تدارکاتو، تخصیص، د پروژې د ارزونې شرایطو او د پروژې پر پروسس باندې پلي کیدی شي. بانک به د اساسي نازکتیا، د شخړو حساسیت او د شخړو د سیمه‌ییز محرکونو په اړه خپل پوهاوی لوړوي څو ډاډ ورکړي چې مناسب امنیتي تدابیر پلي شوي او د سولې راوستلو د وسیلو له لارې د سولې او پراختیا د ترویج لپاره فرصتونو څخه ګټه اخیستل شوې ده. دغه بنسټ به د خطرونو پر بشپړه ارزونه او غوره مدیریت ډېر ټینګار ولري. د دې ترڅنګ به دولتي او خپلو کارکوونکیو ته چې په افغانستان کې کار کوي، د نازک او ناوتریخوالي اغېزمن وضعیت اړوند روزنه ورکړي.

---

[19] د آسیا پراختیایي بانک ۲۰۰۸ کال. د آسیا پراختیایي بانک د ۱۹۹۰کال د فراغت پالیسی کتنه. مانیلا؛ او د آسیا پراختیایي بانک، ۱۹۹۸ کال. د آسیا پرمختیایي بانک د اطلاعنامو د فراغت پالیسي. کوریګیندم1. مانیلا

[20] د ۸۸۷ میلیونه ډالرو په اختصاص کې ۲۰ میلیونه ډالر د طبیعي خطر کمولو د ګامونو لپاره هم شامل دي. د ۲۰۲۱ کلونو لپاره ښودونکی تخصیص به د آسیا پرمختیایي بانک په ۱۲ فنډ کې تشخیص شي. د دې ترڅنګ، په ۲۰۱۷ کال کې به د یوې رواني پروژې د لغوه کیدو څخه پروګرام شوی فنډ هم شامل وي.

57. **د کاري بېلګو مدیریت.** د آسیا پرمختیایي بانک به پراخه ګامونه پلي کړي څو د کاري بېلګو مدیریت او تخصیص لوړ کړي لکه څنګه چې د پروژې وړاندې کولو لوړې رسیدنې په سند کې تشریح شوي.[21] په دې کې (۱) د نه خوځیدونکیو، ناقراردادي کڅوړو لغوه چې د پروژې پر پایلو اغېز نه لري؛ (۲) د پروژې د پراختیا په موده کې د نویو سترو تدارکاتو او مشاورت کڅوړو څخه مخنیوی؛ (۳) د تخصیصاتو د چټکتیا لپاره د مؤکلینو د تخصیص پورتال تأسیس؛[22] (۴) د ډونر لهخوا تمویلیدونکیو پروژو د ادارې، تدارکاتو او مالي مدیریت لپاره د معیاري طرزالعملونو د تأسیس په اړه له دولت او نورو پرمختیایي همکارانو سره خبرې؛ او (۵) د پروژې پلي کولو او ځنډونو په اړه له قرارداد کوونکیو، سلاکارانو او انجینرانو سره د سکټور کاري بېلګو کتنو ډېرې ناستې او درې میاشتنیو ناستو دایرول، شامل دي. د تګلارې سند او همدا ډول د تدارکاتو اړوند ګامونه به د آسیا پرمختیایي بانک له تأسیس شویو کړنلارو او پالیسیو سره سم د هرې قضیې لپاره په بېلابېله توګه پلي کېږي..

58. **د پروژې پلي کولو لپاره د چمتووالي کچې لوړول.** د آسیا پرمختیایي بانک به یو شمېر ګامونه پلی کړي څو د پروژې پلي کولو چمتووالي اړوندو ستونزو ته ځواب وواییي (۲۱ پایلیک). د پروژې د طرحې لوړاوي به د پروژې د طرحې د پرمختګونو او د چمتووالي د تخنیکي مرستې له امتیازاتو څخه رامنځته کېږي، په داسې حال کې چې د تمویل په څو پړاوه اسانتیاوو کې به د راتلوونکیو پړاوونو د چمتووالي لپاره ملاتړ هم شامل وي. دغه بانک به پر هغو پروژو ډېر ټینګار کوي چې کوچنۍ اندازه تړونونه، بیلې طرحې او د رغاونې کڅوړې ولري. دغه بنسټ به د تدارکاتو له ملي ادارې سره په نېږدې همکارۍ په تدارکاتو کې ښهوالی راولي څو د خدمت معیارونه پوره او ځنډونه له منځه یوسي او همدا ډول به د تدارکاتو نوی کاري چوکاټ هم پلی کړي چې د پروسس وخت به راکم او د تدارکاتو د پریکړو کیفیت به لوړ کړي.[23]

59. **د خصوصي سکټور ښکیلتیا.** د آسیا پرمختیایي بانک به په افغانستان کې له خصوصي سکټور سره خپله ښکیلتیا پیاوړې کړي. د دې موخه دا ده چې خصوصي سکټور د همغږۍ لوړاوي، د معلوماتو د تبادلې او د عامه-خصوصي خبرو اترو او همکارۍ د نوي ماډل رامنځ تهکولو پر مټ په دغه بانک کې یو فعال ونډه وال شي. اصلي لومړیتوب به دا وي چې خصوصي سکټور د زیربناوو سکټور ته د عامه-خصوصي مشارکتونو، د زیربناوو د حفظ او مراقبت، او د خپلواکو بریښنا تولیدوونکیو په توګه راوستل شي. د دغه بنسټ ډېر ټینګار به (۱) د زیربناوو د تمویل، مدیریت، عملیاتو او ساتنې لپاره د عامه-خصوصي مشارکتونو په اړه له خصوصي سکټور سره د همکارۍ؛ او (۲) د خصوصي سکټور په مشرۍ د اقتصادي ودې او دندو پیداکولو لپاره د سوداګریز چاپیریال پر تنظیمولو باندې وي. د آسیا پرمختیایي بانک د خصوصي سکټور د فعالیتونو څانګه به سوداګریز باوري معاملات تعقیبوي چې مالي ګټې ولري، په داسې حال کې چې د دغه بانک عمومي ماموریت چې د پایښت لرونکي چاپېریال او ټولشموله اقتصادي وده ده، هم ترویجوي. هغه بالقوه سکټورونه چې په اړه یې غور کیدی شي، کرنیزه سوداګري، مالي ادارې، زیربناوې، صنعت او ټولنیز سکټور دي، چې د قناعت ښوونکو غیرخپلواکو عملیاتي ارزونو د معیارونو تابع دي. پر دې سربېره، بانک د عامه-خصوصي مشارکت د عملیاتي پلان تر څلورم بنسټ لاندې (د پروژې تمویل) هغه غیرخپلواک تولیدات او د هغو پلي کول او همدا ډول سوداګریز ګډ تمویل به تر غور لاندې نیسي څو بانک د دې جوګه کړي چې په افغانستان کې د غوره خصوصي پانګونې لاندې مرسته وړاندې او بدلون رامنځته کړي.

60. د آسیا پرمختیایي بانک به له خصوصي سکټور سره ډېرې مشورې کړي، په ځانګړې توګه د سوداګریزو خونو له لارې، څو (۱) د زیربناوو هغه تشې په ګوته کړي چې د عرضې زنځیر د پراختیا مخه نیسي اود بانک د پروژو طرحې لاښې کوي او (۲) تشخیص کړي چې څنګه وړاندیز شوې زیربناوې نړیواله سوداګري زیاتولی او د صادراتو ملي ستراتیژۍ پلې کولی شي چې تر اوسه د چمتووالي په پړاو کې ده. له خصوصي سکټور سره د ښکیلتیا نورو بڼو کې به (۱) د آسیا پرمختیایي بانک په تړونونو کې د سیمهییزو شرکتونو د کارولو زیاتول او (۲) د مرکزي آسیا سیمهییزې اقتصادي همکارۍ دهلیز او نورو سیمهییزو پانګونو بنسټونو له لارې په مرکزي آسیا کې د سوداګریزو ټولنو ترمنځ د آسانتیاوو تړاوونه شامل وي.

### ت. د پایلو څارنه

61. د پایلو چوکاټ (لومړۍ ضمیمه) به لومړنۍ وسیله وي چې پرمختګ څاري او د پروژې طرحې او پلي کولو لارښوونې وړاندې کوي. د پایلو چوکاټ کې ځینې شاخصونه او هدفونه د جنسیت- پر بنسټ تجزیه شوې ډېټا ته اړتیا لري او د راټولولو لپاره به یې هر ډول هلې ځلې وشي. څارنه به د دولت د ډېټا او ریپورټونو، د ټولنې د څارنې او راپورونو او د آسیا پرمختیایي بانک د پروژو او تخنیکي مرستو د کتنې ماموریتونو پر ترکیب ولاړ وي. د پایلو په چوکاټ کې ډېر شاخصونه پر شته شاخصونو ولاړ دي چې د هغوی لپاره ډېټا په مهالنۍ توګه د حکومت په کورنیو سروېګانو او نورو راپورنو او ډېټابیسونو کې د پرمختیایي همکارانو لهخوا راټوله شوې ده. په افغانستان کې بدلیدونکي وضعیت او معلوماتو ته د محدود لاسرسي په پام کې نیولو سره، کیدای شي د شاخصونو لپاره نرمښت ته اړتیا پیښه شي. بانک به له اړتیا سره سم، د هیواد د فعالیتونو په سوداګریز پلان کې، د پایلو چوکاټ په کلنۍ توګه سره وسمهالی کړي.

---

[21] د آسیا پرمختیایي بانک پر بنسټ. ۲۰۱۶ کال. افغانستان: د لوړې پروژې وړاندې کونې تګلارې رساله. مانیلا.
[22] د آسیا پرمختیایي بانک. د تخصیص لپاره د مؤکلینو پورتال.https://www.adb.org/documents/client-portal-disbursements-guide .
[23] د آسیا پرمختیایي بانک ۲۰۱۷ کال. د تدارکاتو اصلاحاتو له لارې د آسیا پرمختیایي بانک پروژې د فعالیتونو لوړول. مانیلا.

62. د آسيا پرمختيايي بانک به د درېيمګړو ډلو له څارنې څخه ګټه واخلي څو د پروژې په ساحو کې د پايلو راټولولو کچه لوړه او له درېيمګړو څارونکيو ډلو سره به د نړيوال بانک او نورو پرمختيايي همکارانو له تجربو څخه اخيستل شويو درسونو ته پاملرنه وکړي.

### ث. خطرونه

63. **امنيت.** د آسيا پرمختيايي بانک به د يو شمېر ګامونو د ترکيب له لارې د پروژو پر وړاندې امنيتي خطرونه راکم کړي. لومړی به د هېواد د مشارکت ستراتيژۍ په دوران کې نرمښت منونکی وي. پروژې به د داسې ساحو لپاره طرحه او پلې کېږي چې د لاسرسي وړ وي، خو بانک به د پروژو يا څو پړاوويز تمويل لپاره هغه ممکنې بديلې ساحې لټوي، چې کله لاسرسی امنيتي حالت ته په کتو سره بدلون ومومي. دويم، دغه بانک به له قرارداد کوونکيو او سلاکارانو څخه غوښتنه کوي څو امنيتي پلانونه چمتو او د خپلو کارکوونکيو د امنيت مسووليت پر غاړه واخلي. د پروژې تمويل به د پروژو د ساحو لپاره امنيتي پلانونه تر پوښښ لاندې نيسي او د آسيا پرمختيايي بانک به له اړتيا سره سم فنډونه تخصيصوي څو امنيتي خدمتونه وړاندې او د پروژې د امنيت لپاره د دولت لهخوا د اوسنيو وړانديز شويو نرمښت منو څخه کار اخيستلو ته دوام ورکړي، چې سيمهييز پوليس، افغان ملي اردو، افغان د عامه ساتنې پوليس او سيمهييزه ټولنه پهکې شامل دي. درېيم، د آسيا پرمختيايي بانک امنيتي واحد، يا که شونې وي د خطر مديريت شرکت به د امنيتي پلان جوړونې، د داوطلبۍ د امنيتي برخو کتنې او د امنيت-اړوند ترونونو د تحول د منطق کتنې او همدا ډول د پروژې د پرمختګ تفتيش او امنيت اړوندو تادياتو په اړه ترون کوونکيو ته د لارښوونو په وړاندې کولو سره د امنيتي تدابيرو په پلانولو کې مرسته کوي. څلورم، د پروژو په ساحو کې د امنيت لوړاوی به د ټولنې پر بنسټ اشتراکي تګلارې سره ترسره کېږي. ترون کوونکي به د ټولنې مشران او د ټولنې شته پرمختيايي شوراګانې د پروژو په چمتووالي او پلي کولو کې ښکيلوي چې د رغانيزو کارونو لپاره ګومارنه هم پهکې شامله ده. د آسيا پرمختيايي بانک په ساحوی دفتر کې به هم امنيت پياوړی وي څو د آسيا پرمختيايي بانک د فعاليتونو د دوام او د کارکوونکيو د خونديتوب ډاډ ورکړي، چې په ساحه کې ساحوی دفتر کارکوونکي او له ساحې څخه ليدنه ترسره کوونکي کارکوونکي هم پهکې شامل دي.

64. **حکومتولي او اداري فساد.** د حکومت اوسنی اداري وړتيا او هېوادني سيستمونه د حکومتولۍ خطرونه وړاندې کوي. د آسيا پرمختيايي بانک به دا خطرونه په لومړنۍ توګه له دولتي همکارانو سره د سکټور په کچه ښکيلتيا له لارې راکموي. په عامه مالي مديريت کې به بانک له دولتي وزارتونو او ادارو سره د کاري پلانونو په چمتو کولو او پلي کولو کې مرسته کوي څو د دوی مالي مديريت پياوړی کړي. دولتي وزارتونه او ادارې به اړينې مالي بيانيې چمتو، تفتيش او بانک ته به يې پر خپل وخت سپاري. د ابلاعوضه مرستو ترلاسه کوونکي به خپلواک مفتشين يا د تفتيش يوه اداره ګوماري څو د آسيا پرمختيايي بانک لهخوا تمويل شوې ټولې پروژې او مالي بيانيې په کلنۍ توګه د دغه بانک له شرايطو سره سمې تفتيش کړي. ټول تدارکات او مشورتي ګورمارنې د آسيا پرمختيايي بانک مخکينۍ اجازې ته اړتيا لري. دغه بنسټ د تدارکاتو له ملي ادارې سره له نېږدې کار کوي څو د ترون د ټولو کڅوړو د تصويب لپاره ټول اړين ګامونه پر غاړه واخلي او د تصويب لپاره يې د تدارکاتو ملی کميسيون ته وسپاري. بانک به د تدارکاتو له ملي ادارې سره مرسته کوي څو د تدارکاتو ملی اداره کې د سلاکارانو پر ګمارنې سره د دغه بنسټ د پروژو لپاره د تدارکاتو اسانتياوې رامنځ ته کړي او همدارنګه به د بريښنايي-تدارکاتو سيستم په چمتو کولو کې د دولت ملاتړ ته دوام ورکوي.

65. **د پروژې پلي کولو ځنډ او له حده ډېر لګښت.** د آسيا پرمختيايي بانک به پراخه ګامونه واخلي څو د پروژو په پلي کولو ځنډونه او له حده ډېر لګښتونه راکم کړي. د اړتيا په صورت کې به دولت عامه خدمات په کوچنيو ملي رقابتي بستو کې وړاندې کړي څو وکولی شي ځايي افغان ترون کوونکيو ته په پروژو کې ونډه ورکړي. دا چاره به د وړ سيمه ييزو شرکتونو د راجلبولو ګټه ولري چې (۱) له ډېرو پراخو بهرينو ترون کوونکيو څخه په هېواد کې اغېزناک فعاليتونه ترسره کولی شي او (۲) د خپلې پوهې او وړتيا له مخې له ټولنو سره د غوره ښکيلتيا له لارې د امنيتي خطرونو په راکمولو کې مرسته کولی شي. دولت به د عامه کارونو لپاره د قراردادونو له کوچنيو کڅوړو او يو-پړاوه، يو-پاکټه داوطلبۍ کړنلارې څخه کار واخلي. د آسيا پرمختيايي بانک به د دې لپاره چې د ډېرو لګښتونو د راکمولو مخه ونيول شي، په مالي پلانونو کې کافي احتمالات وړاندې کړي.

## د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ د پایلو چوکاټ

**د هېواد د پراختیا اغېز شاخصونه چې د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ ورسره سمون لري**

1. د بېوزلۍ تر کرښې لاندې خلکو تناسب باید په ۲۰۲۱ کې ۳۹٪ یا کم شوی وي
2. د ۲۰۱۷-۲۰۲۱ کلونو موده کې باید د ناخالصو کورنیو تولیداتو د ودې کچه په کال کې ۴ ٪ وي
3. د تن پر سر ناخالصو کورنیو تولیداتو کچه چې په ۲۰۱۶ کې ۵۶۵ امریکایي ډالره وه، په ۲۰۲۱ کال کې به ۷۱۹ ډالرو ته لوړه شي.

| **د هېواد مشارکت ستراتیژۍ موخې او اړوندې اغېزې** | **د هېواد مشارکت ستراتیژۍ د لومړیتوب ساحې** | **هغه مهمې پایلې چې د اسیا پراختیایي بانک په مرسته به ترلاسه شي** | **د پایلې شاخصونه** | **د هېواد مشارکت ستراتیژۍ سرچینې** |
|---|---|---|---|---|
| اقتصادي فرصتونو، بازارونو او خدمتونو ته د ښځو او نارینه وو لهپاره پراخ لاسرسی | د انرژۍ او ترانسپورت زیربناوو د پوښښ زیاتوالی او د ساحې پراخول<br><br>د کرنیزو او طبیعي سرچینو پراختیا<br><br>د خصوصي سکتور پراختیا | د ترانسپورت شبکې ساحه او اغېزناکتیا لوړه شوې ده<br><br>د برېښنا رسونه او د برېښنا څخه د استفادې کچه لوړه شوې ده<br><br>له ټولنیزو خدمتونو څخه کار اخیستل او لاسرسی لوړ شوی دی<br><br>کرنیز محصولات لوړ شوي دي | تر ۲۰۲۰ کال پورې، د سړک له لارې له کابل څخه غزني ته د سفر منځنی وخت ۲,۲ ساعتونو ته راکم شي (د پیل کرښه ۲۰۱۶: ۲,۵ ساعته)<br><br>په شبکې پورې نښلېدلې برېښنا کچه به تر ۲۰۲۱ کال پورې ٪۴۰ ته لوړه شي (د پیل کرښه ۲۰۱۶: ٪۳۲)<br><br>تر۲۰۲۱ کال پورې به د خړوبو شویو محصولاتو کچه په هر هکتار کې ۲,۸۰ ټنو ته لوړه شي (د پیل کرښه ۲۰۱۶: ۲,۴۵ ټن پر هکتار)<br><br>په کرنه یا فصلي روزنه کې د ګومارل شویو ښځو سلنه ٪۲۵ ته لوړه شوې ده (د پیل کرښه ۲۰۱۴: ٪۲۱) | **د روانو چارو بېلګې**<br><br>د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر میاشتې پر بنسټ پورونو او د ADF بلاعوضه مرستو جاري<br>پروژې: ۲۵<br>مبلغ: ۲,۷ میلیارډه امریکایي ډالر<br><br>**پلان شوي فعالیتونه او مرسته:**<br><br>**خپلواکه**<br><br>پور (له ۲۰۱۸ کال څخه به تر۲۰۲۰ کال پورې د پورونو او د ADF بلاعوضه مرستو ۶۶۵,۷۶ میلیونه امریکایي ډالر)<br><br>**تخنیکي مرسته**<br><br>له پور پرته (د ۲۰۱۸-۲۰۲۰ کلونو لهپاره ۳ ملیونه امریکایي ډالر) |
| پیاوړې اداري او بشري ظرفیتونه | د ترانسپورت سکتور کې ادارو پراختیا<br><br>د انرژۍ سکتور اداري پیاوړتیا او د لمریزې برېښنا نوي ظرفیتونه<br><br>د کرنې او طبیعي سرچینو د ادارو، کاروونکو د کارن ټولنو او بزګرانو ظرفیتونه پیاوړي کول<br><br>د عامه-خصوصي مشارکت لپاره غوره چاپېریال برابرول | حکومتولي او اداري فعالیتونه لوړ شوي دي<br><br>د عامه-خصوصي مشارکت لپاره چاپېریال لوړ شوی دی | په ۲۰۲۰-۲۰۲۱ کلونو کې په PCRs او TCRs کې لږ تر لږه د ٪۸۰ پلې کوونکیو ادارو کارکړنې د قناعت وړ ګڼل شوي دي (د پیل کرښه ۲۰۱۶ کال: ٪۶۷)<br><br>تر ۲۰۲۱ کال پورې به لږ تر لږه د یو عامه-خصوصي مشارکت تړون چې د برداشت او د مالي لهپاره د ارزښت په ازموینه کې بریالی شوی وي (د پیل کرښه ۲۰۱۶: ۰) | |
| د چاپېریال لوړ شوی پایښت، د اقلیم بدلون پر وړاندې پیاوړتیا، او د طبیعي پېښو پر وړاندې پیاوړتیا | د طبیعي خطرونو او اقلیم بدلون پر وړاندې د مقاومت لرونکو زیربناوو جوړول<br><br>د طبیعي سرچینو خوندیتوب، اعاده او مدیریت<br><br>د اقلیم بدلون او طبیعي پېښو پر وړاندې پیاوړې زیربناوې | د طبیعي سرچینو خوندیتوب پراخه شوی دی<br><br>د نوې کېدونکې انرژۍ کارول زیات شوي دي<br><br>د اقلیم بدلون او طبیعي خطرونو پر وړاندې مقاومت لرونکې زیربناوې وړاندې کول | د ۲۰۲۱ کال تر پایه به لږ تر لږه ۲۰۰ هکتاره د ابخوانونو د خوندیتوب زون چمتو او فعال شي (د پیل کرښه ۲۰۱۶: ۰)<br><br>تر ۲۰۲۰ کاله به په کال کې د ۱۳۰۰۰ ټنه کاربن ډای اکساید مخه نیول شوي وي (پیل کرښه ۲۰۱۷: ۴۴,۴۲ میلیونه ټنه په کال کې) | |

| د هېواد مشارکت ستراتیژۍ موخې او اړوندې اغېزې | د هېواد مشارکت ستراتیژۍ د لومړیتوب ساحې | هغه مهمې پایلې چې د اسیا پراختیایي بانک په مرسته به ترلاسه شي | د پایلې شاخصونه | د هېواد مشارکت ستراتیژۍ سرچینې |
|---|---|---|---|---|
| | | | په ۲۰۲۰ کال پورې به په کال کې لږ تر لږه ۴۳۰۰۰ میګاواټه لمریزه برېښنا ترلاسه شي (د پیل کرښه ۲۰۱۶: ۰)<br><br>په ۲۰۲۱ کال کې به د اقلیم بدلون سره هوکړې لهپاره لږ تر لږه درې زیربنایي پروژو ته فنډ ورکړل شي(د پیل کرښه ۲۰۱۶: ۰) | |

(ADB) = د آسیا پرمختیایي بانک، (ADF) = آسیایی پراختیایي مرستي، ($CO_2$) = کاربن دای اکساید (CPS) = د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ، (GDP) = ناخالص کورنی تولید، (MWh) میګاواټ - ساعت، (PCR) = د پروژې د بشپړېدو ریپورټ، (PPP) = عامه او خصوصي مشارکت، (TCR) = د تخنیکي مرستونو تکمیلي ریپورټ.

سرچینې: د آسیا پرمختیایي بانک؛ افغان دولت. ۲۰۱۶کال. د افغانستان د سولې او پراختیا ملي کاري چوکاټ (ANPDF) ۲۰۲۱-۲۰۱۷ کلونه، کابل.

## د هېواد د پوهاوي پلان

### أ. د پوهنې اړتیاوې

1. افغانستان د ۱۹۷۰ کلونو راهیسې له شخړې ځخه کړېږي. دغه هېواد په آسیا کې یو له تر ټولو بېوزلو او لږ پرمختللیو هېوادونو ځخه دی، چې په ۲۰۱۶ کال کې یې د تن پر سر ناخالص کورني تولیدات ۵۶۵ امریکایي ډالر وو. د یاد هېواد اقتصاد تر۲۰۰۲-۲۰۱۳ کلونو پورې په نسبتاً چټکې سره وده وکړه، خو دا وده په ۲۰۱۴-۲۰۱۶ کلونو کې ډېره راښکته شوه، چې په کلنی توګه یې منځنی کچه له ۱,۴ ٪ ځخه کمه وه، چې لاملونه یې په ۲۰۱۴ کال کې له افغانستان ځخه د بهرنیو ځواکونو وتل، د ۲۰۱۴ کال له ولسمشریزو ټاکنو ځخه راپورته کېدونکې سیاسي بې ثباتي او بیا ورپسې جوړېدونکی د ملي یووالي حکومت او خرابېدونکی امنیتي وضعیت دی. د لسیزو اوږدې شخړې د افغان اداري بشري پانګه له منځه وړې ده. له ۱۹۷۰ کلونو سیاسي رژیمونو ځخه په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو تر رژیم پورې د واک بدلونونه د دې لامل شوي چې په عملي توګه هیڅ ډول اداري حافظه او عرف نه وو پاتې شوی چې په ۲۰۰۲ کال کې ورځخه کټه اخیستل شوې وای. له ۲۰۰۲ کال راهیسې، د پرمختیایي همکارانو په مرسته، دولت د ادارو او بشري وړتیاوو په لوړاوي کې ډېر پرمختګ کړی دی. خو په ۲۰۰۲ کال کې د ټیټ بنسټ په پام کې نیولو سره چې نوموړې پراختیا ترې پیل شوه، لا هم په دې ساحه کې ډېر کار ته اړتیا لیدل کېږي.

2. حکومت په دې پوهیږي چې پیاوړې اداري او بشري وړتیاوې د افغانستان لپاره ډېر اړیني دي ځو پر ځان-بسیاینه رامنځته کړي. دغه اصل د افغانستان د سولې او پراختیا په ملي چوکاټ (ANPDF) او د دوه اړخیزې حساب ورکونې له لارې پر ځان-بسیاینې کې بیان شوی دی.[1] د حکومت ټینګار او تمرکز د ستونزو د حل لپاره د بهرنیو متخصصینو له راوستلو ځخه (چې د دویم ملکي خدمت په نوم یادېږي) د داسې وړتیاوو لوړاوي ته ګرځېدلی چې ملي او سیمه‌ییزې اداري د دې جوګه کړي ځو خدمتونه وړاندې او خپل فعالیتونه په‌خپله اداره کړي. د دغې تګلاره ملاتړ د افغانستان د پرمختیایي همکارانو لخوا هم کېږي، لکه د نړیوال بانک د پایلو لپاره د وړتیا لوړولو پروګرام (CBR). د آسیا پرمختیایي بانک د زیربناوو سکټور کې د افغانستان مخکښ پرمختیایي همکار دی، او د زیربناوو د تمویل ترڅنګ یې د افغان ادارو په وړتیا لوړونه کې هم پانګونه کړې ده، په ځانګړې توګه د انرژۍ، ترانسپورت او کرنیزو او طبیعي سرچینو په سکټورونو کې.

3. د پوهاوي پر بنسټ تولیداتو اوخدمتونو (KPSs) لپاره د افغانستان اړتیاوې پراخه او بېلابېلې دي او پرمختیایي همکاران په ځانګړیو او موضوعي ساحو کې کار کوي. دا چې د آسیا پرمختیایي بانک به د انرژۍ، ترانسپورت او کرنیزو او طبیعي سرچینو لومړیتوبونو ته دوام ورکوي، نو د دې هېواد د پوهاوي پلان لپاره د پوهاوي اړتیاوې او پلان شوي پوهنیز فعالیتونه پر همدې درېیو سکټورونو تمرکز کوي.

4. په هېواد کې د آسیا پرمختیایي بانک تجربه او له افغان دولت سره اوسنی مشورې په زیربنایي سکټور کې د پوهاوي د اړتیاوو په ګوته کولو لامل شوي دي. په دې کې د اداري او تخنیکي فعالیتونو ترکیب لکه مالي مدیریت، تدارکات، د ټرونونو مدیریت، طرحه او انجینري، حفظ او مراقبت او د شتمنی مدیریت شامل دی. ډېرې هغه ساحې چې د پوهاوي تولیداتو او خدمتونو ته اړتیا لري، په بېلابېلو سکټورونو کې دي، چې په عمومي توګه د (۱) د زیربناوو پلانولو او بودیجې تخصیص او (۲) پروژې پلې کولو له اړخه پوهاوي ته اړتیا لري، په داسې حال کې چې د سکټورونو دننه هم ځینې ځانګړې ستونزې شته چې پوهنیزو حل لارو ته اړتیا لري.

5. **د زیربناوو پلانول او د بودجې ځانګړې کول.** افغانستان د زیربناوو پراخې اړتیاوې لري. له ۲۰۰۲ کال راهیسې ډېر ځه ترسره شوي، خو بیا هم د زیربناوو په برخه کې سترې پانګونې ته اړتیا ده. داسې برېښي چې دولتي وزارتونه او اداري د پلان جوړونې او بودجې محدود وړتیاوې لري او د زیربناوو لپاره د پرمختیایي همکارانو تمویل مخ پر کمېدو دی. له همدې امله، د داسې یو میکانیزم جوړولو ته اړتیا ده چې د زیربناوو پانګونې ته لومړیتوب او د شته فنډونو د سمې کارونې ډاډ ورکړي. د زیربناوو په تمویل کې د مرستې لپاره، دولت هم اړ دی چې خصوصي سکټور مرسته راجلب کړي، په ځانګړې توګه د عامه-خصوصي مشارکت له لارې. د مالیې وزارت کې نوی تأسیس شوی د عامه-خصوصي مشارکت واحد د عامه-خصوصي مشارکت پروژو په نښه کولو، پراختیا، او پلې کولو لپاره ملاتړ ته اړتیا لري.

6. **د پروژې طرحه او پلي کول.** د پروژې پلي کول په افغانستان کې ډېر سوکه وې، چې ډېری وختونه د ځنډونو او ډېرو لګښتونو لامل ګرځي. په ۲۰۱۶ کال کې، د پرمختیایي بودجې د اجراء کچه ۵۵٪ وه چې دغه ټیټه کچه ډېر لاملونه لري. د امنیتي ځنډونو ترڅنګ، د طرحې او انجینرۍ، تدارکاتو، او قراردادونو مدیریت لپاره وړتیاوې ډېر محدود دي، چې بیځایه ځنډونه رامنځته کوي. وزارتونه او دولتي اداري په دې برخه کې روزنې او د پروژې د پلي کولو لارښوونو، معیارونو او د هر پړاو لپاره وسایلو ته اړتیا

[1] افغان دولت، ۲۰۱۶کال. د افغانستان د سولې او پراختیا ملي کاري چوکاټ، ۲۰۲۱-۲۰۱۷کلونه، کابل: او افغان دولت ۲۰۱۵ کلونه. د دوه اړخیزې حساب ورکونې کاري چوکاټ له لارې پر ځان-بسیاینه. کابل.

لري. دا لاربښوونې او کړنلارې باید په ځانګړې توګه په افغانستان کې د نازک او له تاوتریخوالي اغېزمن وضعیت (FCAS) لپاره تیارې شوې وي.

7. **د سکټور-مشخصې اړتیاوې.** د پوهاوي بېلابېلو موضوعګانو ترڅنګ، هر سکټور د پوهاوي تولیداتو او خدمتونو لپاره ځانګړې اړتیاوې لري:

(i) **ترانسپورت.** د ترانسپورت سکټور نوي راغوړېدونکې اداري لري لکه د سړکونو ملي اداره، د سړکونو وجهي صندوق او د ترانسپورت اداره. دغه اداري لاهم د پراختیا او د حکومتولی ترتیبات او فعالیتونه د طرحې په حال کې دي او ملاتړ ته اړتیا لري. په ځانګړې توګه، حفظ او مراقبت، د سړکونو لپاره یوه بله مهمه ساحه ده چې دولت یې‌کې ورتیاوې لوړول غواړي.

(ii) **انرژي.** د افغانستان د برېښنا شرکت، چې دولتي شرکت دی، د دې پر مټ بنه کیدی شي چې وړتیا یې لوړ او د یو خپلواکه شرکت په توګه فعالیتونه ترسره کړي او د برېښنا د تعرفو د ماډل لوړاوي پرمټ بنه کیدی شي. د دې ترڅنګ، د برېښنا شرکت او د اوبو او برېښنا وزرات غواړي چې د نوې کیدونکې انرژۍ نوي وړتیاوې لوړې او د کورنی برېښنا تولید او د پاکې انرژۍ وړاندې کول زیات کړي.

(iii) **کرنیزې او طبیعي سرچینې.** د کرنیزو او طبیعي سرچینو په برخه کې مهمه اړتیا د اوبو سرچینو د متحد مدیریت په تړاو د وزارتونو او دولتي ادارو او بزګرانو وړتیا لوړول دي، چې دوی په حقیقت کې د اوبو سرچینو کاروونکي دي. د کرنیزو او طبیعي سرچینو د پوهاوي تولیداتو او خدمتونو اړوند بله مهمه برخه د څېړنو او پراختیا او په ساحه کې د روزنې له لارې د کرنیزو تخمونو د کیفیت لوړاوی دی.

## ب. د آسیا پرمختیایي بانک د پلان شویو پوهاوي فعالیتونو ساحه

8. د هېواد د مشارکت ستراتیژي، ( ۲۰۱۷-۲۰۲۱ کلونه) د افغانستان د سولې او پراختیا له ملي چوکاټ (ANPDF) او نورو ملي او سکټوري ستراتیژیو او پلانونو سره سمون لري. دغه ستراتیژي غواړي چې د ټولشموله ودې لپاره یو پیاوړی بنسټ تأسیس او پر درېیو ستراتیژیکو بنسټونو د تمرکز له لارې د بیوزلی کچه له خرابیدو وژغوري: (۱) اقتصادي فرصتونو، بازارونو او خدمتونو ته د ښځو او نارینه‌وو لپاره پراخه لاسرسی؛ (۲) پیاوړې اداري او بشري وړتیاوې؛ (۳) د چاپیریال لوړ شوی پایښت او د اقلیم بدلون او د طبیعي پیښو پر وړاندې پیاوړتیا. د آسیا پرمختیایي بانک د پوهاوي پلان شوي فعالیتونه په ځانګړې توګه د دویم ستراتیژیک بنسټ ترلاسه کولو په موخه طرحه شوي، خو د لومړي او درېیم بنسټ په پیاوړي کولو کې هم هلې ځلې کوي.

9. د آسیا پرمختیایي بانک چې د دولت او پرمختیایي همکارانو له لوري په زیربناوو او د پروژې پلي کولو کې د مخکښ په توګه پیژندل کېږي، غواړي پر سکټور-متمرکزې عملي تګلارې کې د پانګونې او تخنیکي مرستې له لارې په افغانستان کې عملي او مناسب د پوهاوي تولیدات او خدمتونه وړاندې کړي. پر زیربناوو تمرکز به د تمې وړ پانګونو پروژې بشپړې کړي چې وړاندوینه یې کېږي، د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ په چوکاټ کې به چې د آسیا پرمختیایي بانک لخوا یې ملاتړ کېږي، دغه بانک د دې جوګه شي چې د وړتیا لوړاوي او پوهاوي له پخوانیو نوښتونو ګټه واخلي چې د ادارو جوړولو او بشري پانګې لپاره یوه اوږدمهاله او پایښت لرونکې رسیدنه وړاندې کړي. د هېواد په کچه به د آسیا پرمختیایي بانک رئیس په افغانستان کې د پوهاوي محافظ وي.

10. **د زیربناوو پلانول او بودجه.** د آسیا پرمختیایي بانک به په بېلابېلو سکټورونو کې مرسته وړاندې کوي څو د زیربناوو پلانولو او بودجې په اختصاص کې د دولت وړتیاوې لوړې کړي او د مالیې وزارت سره په همکارۍ، د زیربنایي پروژو د ارزونې معیارونو او د زیربنایي پانګونې د لومړیتوب لرونکي پلان لپاره د پوهاوي پر بنسټ تولیدات او خدمتونه وړاندې کړي. بانک به د زیربنایي سکټور اداري چوکاټ او د ملي زیربناوو پلان د وسمهالونې لپاره اضافي مرسته وړاندې کړي. د سکټور په کچه به بانک د ماسټر پلانونو، سکټوري نقشو او کاري پلانونو په چمتو کولو یا وسمهالولو کې مرسته کوي چې د ترانسپورت سکټور د ماسټر پلان وسمهالونه، د نوې کیدونکې انرژۍ نقشه او کاري پلان، د انرژۍ سکټور ماسټر پلان او د سیندونو حوزو ماسټر پلانونه په کې شامل دي.

11. **د پروژې پلي کیدل.** د آسیا پرمختیایي بانک به له دولت سره کار کوي څو د پوهاوي پر بنسټ عملي خدمتونه وړاندې او د پروژو پلي کولو کچه لوړه کړي. د پوهاوي خدمتونو کې به د دولتي ادارو لپاره د پروژې پلي کولو واحدې کړنلارې او معیارونه، د ملي تدارکاتو کمیسیون د خدمت معیارونه، د ملي رغاونې فابریکې پرمختیایي پلان، د قراردادونو د مدیریت لارښود نوټونه او د عامه-خصوصي مشارکت پلي کولو لارښودونه شامل وي. بانک به د نازک او له تاوتریخوالي اغېزمن وضعیت له تګلارو سره د پروژې د پلي کولو اړوند د پوهاوي خدمتونه وړاندې کوي، لکه د پروژې په کچه د سولې راوستلو وسیلې او د هغو د پلي کولو لپاره د وړتیا لوړول.

12. **د سکټور لپاره نور ځانګړي د پوهاوي پربنسټ تولیدات او خدمتونه.** د ترانسپورت برخه کې به د آسیا پرمختیایي بانک د سړکونو د شتمنۍ مدیریت سیستم په پراختیا کې مرسته کوي او د سړکونو د عملیاتو او ساتنې وړتیاوو ملاتړ ته به دوام ورکوي. د انرژۍ په برخه کې، د پوهاوي پربنسټ تولیداتو او خدمتونو کې د کورنۍ انرژۍ د تولیدولو وړتیا، د ملي شبکو غځولو او برېښنا

همغږۍ په اړه څېړنې ترسره کول، د نوې کيدونکې انرژۍ لهپاره د بریښنا د نوي اداري وړتیا او د بریښنا تعرفو ماډل چمتو کول شامل دي. د کرنیزو او طبیعي سرچینو په برخه کې به د آسیا پرمختیایي بانک د اوبو سرچینو د پراختیا ستراتیژي جوړه کړي، د دولت او اوبو کاروونکيو ټولنو لهپاره د اوبو سرچینو متحد مدیریت په اړه د وړتیا لوړاول او په ساحه کې د روزنې وړاندې کولو لهپاره تخنیکي ملاتړ شامل دي. د آسیا پرمختیایي بانک به د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ په دوران کې، له غوښتنې سره سم د سکټور لهپاره ځانګړي د پوهاوي پر بنسټ خدمتونه وړاندې کوي، په ځانګړې توګه د اداري پیاوړتیا لهپاره.

**ت. له همکارانو سره د همکارۍ ساحې**

13. **دولتي او سیمهییزې ادارې.** د آسیا پرمختیایي بانک د پوهاوي پر بنسټ تولیدات او خدمتونه به له وزارتونو او دولتي ادارو سره په همکارۍ چمتو کېږي چې په درې لومړیتوب لرونکيو سکټورونو کې به هر اړخیزه مرسته وړاندې کړي او د ځینو پوهاوي پر بنسټ تولیداتو او خدمتونو د چمتو کولو پر مهال به له خصوصي سکټور سره کار کوي، لکه د عامه-خصوصي مشارکت پلې کولو لارښود او د ملي رغاونې فابریکې پرمختیایي پلان. بانک به په دوامداره توګه له سیمه ییزو متفکرانو او کورنیو او نړیوالو نادولتي ادارو سره مشورې کوي او د خپلو بهرنیو اړیکو چینلونو او دولتي چینلونو څخه به ګټه اخلي څو د پوهاوي پر بنسټ تولیداتو او خدمتونو د پراخه انتشار او منښت ډاډ ورکړي. که څه هم، د آسیا پرمختیایي بانک په رسمي توګه د پوهنې سکټور کې فعالیت نه کوي، خو د روزنې په شمول د پوهاوي پر بنسټ تولیداتو او خدمتونو اړونده همکاري کیدای شي له یو شمېر پوهنتونونو او دولتي تخنیکي یا روزنیزو ادارو سره چې د زیربناوو په اړه له دولت سره همکارۍ دي، رامنځ ته شي.

14. **پرمختیایي همکاران.** د پرمختیایي همکارانو همکاري او همغږي په افغانستان کې ډېره پیاوړې ده. د آسیا پرمختیایي بانک زیربناوو تمرکز په هغو سکټوري او موضوعي ساحو کې د بل پرمختیایي همکار د پوهاوي خدمتونه بشپړوي چې هلته ډېرې پرتلهییزې ګټې لري. ځینې پرمختیایي همکاران، لکه د برتانیې نړیواله پرمختیایي اداره، د افغانستان د زیربناوو وجهي صندوق له لارې د پوهاوي پر بنسټ تولیدات او خدمتونه تمویلوي او تمه کېږي چې د هېواد د مشارکت ستراتیژۍ په دوران کې به هم دوام ومومي. پر دې سربېره، به د پروژې پلې کولو اړوند د پوهاوي پربنسټ تولیداتو او خدمتونو د چمتووالي په اړه له نړیوال بانک او د متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیایي ادارې سره کار کوي څو داسې ګډې حل لارې ومومي چې د درې واړو ادارو لهخوا ټولو تمویل شویو پروژو لهپاره ګټورې وي. همدا ډول د آسیا پرمختیایي بانک به له نورو پرمختیایي همکارانو سره د معلوماتو تبادله او د پالیسۍ ګډې خبرې اترې ترسره کوي.

**ث. د سرچینو تخصیص**

15. تمه کېږي چې د آسیا پرمختیایي بانک به ۱۴ میلیونه امریکایي ډالر مرسته وکړي څو په ۲۰۱۷-۲۰۱۹ کلونو کې د تخنیکي مرستې، بلاعوضه مرستې، کارکوونکيو د مشورو او د هغوی د وقف شوي وخت له لارې د افغانستان لهپاره د پوهاوي پر بنسټ تولیدات او خدمتونه وړاندې کړي. د هېواد لهپاره ځانګړې مرستې ترلاسه کولو ترڅنګ به افغانستان د مرکزي آسیا د سیمهییزې اقتصادي همکارۍ پروګرام او نورو د پوهاوي پر بنسټ سیمهییزو خدمتونو لاندې نوښتونو څخه ګټه اخلي. د تمویل په سرچینه کې په زیربناوو کې د آسیا پرمختیایي بانک هغه پانګونې شاملې دي چې د تحلیلي کار او وړتیا لوړونې، د افغانستان د زیربناوو وجهي صندوق د ګډ تمویل، تخنیکي مرستې او د دولت له لارې د لګښت شریکولو برخې لري.

**ج. د پوهې وړتیا یا تخصص**

16. افغانستان له شخړې وروسته د شتمنیو او د ادارو په بیارغاونه کې د پام وړ تجربه لري. دا تجربه د نازک او له تاوتریخوالي اغېزمن وضعیت لرونکیو هېوادونو سره شریکیدی شي.

**د پیوند شوو سندونو لیست**

http://www.adb.org/Documents/CPS/?id=AFG-2017

1. د هر اړخیزه او پایښت لرونکې ودې ارزونه
2. د پرمختیایي همغږۍ جدول
3. د هېواد د فعالیتونو سوداګریز پلان

ضمیمه سند

4. افغانستان: د پروژو د ښه وړاندې کولو تګلارې رساله